بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ژوند د یادونو لاندې

لیکونکے: محمد طاهر عابد طائرؔ

املا کره کتنه: طلبګار خوګیاني

زیر کتنه: پروفېسر اعجاز احمد

سرپاڼه: اسد ګدون

چاپ کال: اکتوبر ۲۰۱۵ء

چاپ وار: لومړی


چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

کمپوز: اماني


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





د سترګو رپ کې سړی بوځي د وختونو شاته
خدایزده چې څه وي د ځینو تصویرونو شاته



ګېر شوم طائره! د وختونو لاندې
بس تېروم ژوند د یادونو لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تړون

د ګران استاد اروابناد میا «نثارالدین صیب» په نوم چا چې خپل ټول ژوند تر آخري ساه پورې د علم د رڼا په خورولو کښې تېر کړۀ.



## سریزه

اوس دې یادونه افسانې ښکاري
داسې دستور د زمانې ښکاري

دا شعر واقعي د کمال شعر دے، چې انسان وفات شي، نو یادونه یې افسانې جوړې شي. د خدای پاك نظام دے چې د دنیا مادي هر څیز لره زوال شته، ځکه چې الله پاك په خپل قرآن پاك کښې فرمایي: « هریو زنده به یو ځل ضرور د مرګ مزه څکي» انسان مړ شي، خو یاد یې پاتې شي. یاد یو داسې شے دے چې دې لره زوال نشته. دا اټل خبره یا امر دے.

د دنیا هرڅه به زاړه شي
د جانان غمه په والله زړېږي نه

زۀ نۀ پوهېږم چې خپلې خبرې د کوم ځاې نه شروع کړم او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم ځای یې خلاصې کړم. لنډه دا چې دا یو څو ماتې ګوډې خبرې خاطرې د خپل ګران استاد میا نثارالدین صیب په یاد کښې لیکلې دي، ځکه چې د ژوند هیڅ څۀ پته نۀ لږی. هسې نه چې مرګ تلوار وکړي او زۀ لۀ دې څو خبرو نه محروم پاتې شم... په دې لیکلو کښې ما سره پوره پوره مدد د میاصیب ځوئې ((میاعادل نثار صیب)) کړے دے، چې د هغۀ زۀ ډېره مننه او شکریه ادا کوم او ورسره زما د کلاس ملګرو هم ډېره مننه چې ماته یې ددې خبرو لیکلو دپاره ډاډ راکړے دے.
الله پاک دې د میاصیب روح ته خوشحالي ور نصیب کړي او د هغۀ په زامنو دې هم الله پاک خپل خصوصي رحم وکړي او خپل ټول ملګري او استاذان ښاد او آباد غواړم.

په ډېر درنښت
**محمد طاهر عابد طاۤئر**



# رڼا د مرګ په ګودر نۀ ورکیږي

د ژوند د تکمیل د ټولو نه لویه مرحله مرګ دے. مرګ انسان وژني هم او را ژوندے کوي یې هم، څوك چې د ژوند د خیر د فلسفې سره شپې صبا کوي او د انسانیت د ارتقاء د تصور سره په لاره ځي مرګ یې هم نۀ شي وژلے.
دې مجموعه کښې ښاغلی محمد طاهر عابد طائر هم د خپل قدر منډ استاد ((میانثارالدین صیب)) د مقصدي ژوند او بې لوثه عمل خاکه په دغه بنیاد راپه ډاګه کوي چې:

*مرنے والے مر تو جاتے ہیں فنا ہوتے نہیں*
*یہ حقیقت میں کبھی ہم سے جدا ہوتے نہیں*

د ښاغلي طائر دا کتاب ده مینې د هغه احساس غورځنګ دے چې ورك منظرونه، سپېڅلي رویّے او ډوبېدونکې نندارې د نظرونه په آسانه سوزېدو ته نه پرېږدي.
ښاغلی یو طرف ته د خپلې موضوع مادي حدونو او چوکاټونو نه تېښته نۀ ده کړې، نو بل اړخ ته یې د خپلو تجربو او فراستونو پۀ تار کښې د خپل استاد د رېښتینو وصائفو ملغلرې امیل کړې دې او دا حقیقت یې راښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړے دے چې:

لطافت بے کثافت جلوہ پیدا کر نہیں سکتی
چمن زنگار ہے آئینۂ باد بہاری کا

(غالب)

ښاغلے لیکونکے په دې راز پوهه دے چې د انسانیت معاشره د اقدارو، روایاتو، رسمونو او د انفرادي اجتماعي عادتونو نه دخپل وجود ښکلاګانې او ساه ګانې اخلي او هم په دې باندې ژوندے وي. مادي وجودونه فنا کیدے شي خو ښائسته رویّے لازواله او دائمي وي. ځکه خو د تصویرونو د شخصي حوالو دیادولو سره سره هغه تصورات هم نه هیروي چې د تاریخ په هر پړاؤ ورته انساني معاشره پامتداره پاتې شوې ده. ښاغلے خاکه نګار ډېر په هنر د خپل استاد داسې خوبیانې مخې ته راولي چې دیو انسان ژوند کښې راشي نو سترګې او ذهن یې د رڼا ګانو اوپلوشو په دریاب ورګډیدے شي. ښاغلي طاهر عابد طائر د ژوند په داسې مرحله کښې دے چرته چې د سحر او ماښام پۀ تعبیرونو کښې فکر تیروځي او نظر تندك کېږي. ولې د خوشحالۍ زیرے دادے چې داسې نه شویدی او نه داسې احتمالاتو په تول کتاب کښې چرته پټ پټوني کړی دی.

خاکه نګاري او د خاکې فن په پښتو نثر کښې په اردو کښې د مالګې برابر هم نه دے. ځکه دا وئېل چې یار ښاغلے په دې



لړ کښې ده چا د اثر لاندې دے. بې ځایه دعویٰ ده. البته په اردو ژبه کښې فرحت الله (بیګ)، رشید احمد صدیقي، رضا همداني او فارغ بخاري د کمال خاکې لیکلي دي، چې ذوق ورته په تماشا او فکر ورته ګوته پۀ خُلۀ دے. بیا هم د طائر خاکې د ټولو نه په فرق محسوسیږي. طائر د خپل استاد د شخصیت نه صرف داسې حوالې تصویر کړې چې پخپله ورته محبوبي دی بلکه داسې اړخونه یې هم د انځورګری د منزلونو نه راتیر کړی دي چې رنګ، نسل، جغرافیے او طبقاتي قدغنونو نه آزاد دی او دا سلسله د ښاغلي محمد طاهر عابد طائر د آفاقي سوچ پۀ ترتیبولو کښې بنیادي حېثیت لري. هیله لرلے کېدے شي چې دا ښاغلے به په راتلونکي ساعتونو کښې د هاغه لیکونکو او تخلیق کونکو په قطار کښې په هڅکه غړی اودریږي کوم چې د قام تقدیرونه بدلوي او د انسانیت نوې او رڼا تعبیرونه ویشي.

په ډېر درناوي
ډاکټر اظهار الله اظهار
صدر اردو څانګه
اسلامیه کالج یونیورسټي پېښور
**۱۵ نومبر ۲۰۱۵ء**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

دنوي تهذيب په رڼا کښې چې څومره تياري دي د هغې سيورے د ننني ژوند له سحر نه هم ښکاري او په ماښام کښې هم. زمونږ معاشره په ډېره تېزۍ سره له بد تهذيبۍ سره مخامخ ده زمونږ تهذيب د شکست و ريخت يو داسې طوفان او سېلاب ته مخامخ دے چې هرڅه په کښې لاهو ښکاري او که چېرې د عقل خاوندانو او شعور مالکانو دې طوفان ته او دې سېلاب ته د علم و هنر، د عقل و شعور او د مذهب و تهذيب بند ونه تړلو نو خدای خبر چې زمونږ انجام به څه وي.
دا د حقيقت يو مخ دی.
د حقيقت بل مخ؟ د حقيقت بل مخ همېشه موجود وو، کله تت او کله روښانه او حقيقت دا دے که يو طرفته په نوي کل کښې عملي،بد تهذيبي او بې ترتيبي ښکاري نو بل طرفته په نوي نسل کښې داسې ستوري هم شته چې د خپلو آثارو له کبله ځلنده ښکاري او د خپلې مطالعې مهذبي رويې او علمي وادبي هلو ځلونه د نوي سحر اميد ښکاري.
محمد طاهر عابد طائر د ننني متضاد بيانيې او منظر نامې داسې ځوان قلمکار دے چې په خپل وړومبي اثر ((ژوند د



يادونو لاندې)) کښې نه صرف خپل هنر ښکاره کوي بلکه هغوي چې په کم خلوص او مينې سره د خپل ګران استاد ميانثارالدين صاحب ذکر او تذکره کړې بذات خود دا ديو رشد او مهذب شاګرد او د علم و ادب سره د بې کچې تعلق ديو طالبعلم قصه را وړاندې کوي. يو وخت وو چې په پښتو کښې نثر ډېر کم ليکلے کېدو خو اوس داسې نه ده هرڅو نن هم د نثر په مقابل کښې شعر، بې انتها ليکلے کېږي خو ورسره په څنګ کې تخليقي او غير تخليقي ادبي نثر هم خپل وجود ښه دورن احساس ورکوي.
((ژوند د يادونو لاندې)) د محمد طاهرعابدطائر ليك يو سوانحي خاکه ده چې ممدوح يې ميانثارالدين صاحب دی.
طائر د خپلې مشقۍ باوجود تر ډېره حده پورې په خپل ليك کښې کامياب دے، دا ځکه وايم چې ماه چې دا مسوده ولوستله نو زه ديو داسې شخصيت نه پورا پورا آشنا شوم چې ما هيڅ نه پېژندو.
طائر په ډېره ساده ژبه کښې د مياصاحب کړه وړه، حليه د هغوی مشغله د هغوي تعليم و تعلم سره شوق د ژبو او د ادبياتو سره دهغوي مينه په ښۀ دول سبق ښودل. د هغوی ذاتي زندګي او ډېرې خوبيانې او د هغوی هغه شفقت چې کوم د طالب علمانو دپاره عمومي وو، بيان او څرګنده کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے چې پُر تاثیره هم دے او خوندور هم. طائر خپل دې نثري لیك او لتهون کښې تر خپله حده کامیاب او کامران دے د هغوی دا تحریر نه یوازې د لوستلو قابل دے بلکه دا تحریر یې خپل استاد ته خراج تحسین هم دے، چې د کوم نه استاد او د شاګرد بې لوڅه تعلق او د شاګرد په ذهن و قلب کښې د استاد لپاره موجود قدر او احترام موجزن ښکاري.

((ژوند د یادونو لاندې)) کښې د قلم یو څو معصومې غلطیانې هم ښکاري خو زه امید لرم چې د طائر قلم به ان شاء الله داسې روان وي او که هغوی دا رنګ مطالعه، مشاهده او قلم سره خپل تړون او خپله وابستګي برقرار وساتله نو دوي به ډېر زر په پښتو ادب کښې خپل ځائے پیدا کړي.

ډاکټر تاج الدین تاجور
شعبه اردو،
ګورنمنټ کالج پېښور



# ایک تاثر

مشتاق احمد یوسفی نے اپنی ایک تحریر میں "یادماضی" کے جزیرے میں رہنے والے شخص کے لیئے کیا خوبصورت اور موزوں لفظ استعمال کیا ہے. یعنی "یادش بخیریا" ذاتی طور پر میرا یہ خیال ہے کہ انگریزی کے لفظ (Nostalgic) کا اس سے. بہتر ترجمہ ممکن نہیں. (ژوند د یادونو لاندی) بھی ایک ایسے ہی کسی "یادش بخیریے" کی کتاب ہے. پشتو زبان اور اس کا ادب آج جس بلندی پر ہے. اگر ہم اُسے معیار اور پیمانہ بنا کر اس کتاب کا مطالعہ کریں گے تو یہ زیادتی ہوگی.

لیکن اگر ہمارے پاس پیمانۂ خلوص اور محبت ہے تو یہ کتاب اُس پیمانے پر ضرور پورا اترتی ہے محمد طاہر عابد طائرؔ نے اپنے استاد محترم "میاں نثارالدین صاحب" کو جن الفاظ میں خراج عقیدت پیش کیا ہے اور جس محبت اور خلوص سے پیش کیا ہے وہ آپ کو اس کتاب کی سطر سطر میں دکھائی دے گا. مصنف کی جواں سالی سے یہ اندازہ لگانا مشکل نہیں کہ اپنے استاد محترم سے ماضی بعید کا قصہ نہیں بلکہ چند سال ادھر کی بات ہے. اور یہ امر میرے لیئے بجائے خود حد درجہ طمانیت اور تقویت کا باعث ہے. کہ (الحمداللہ) ہمارے اس معاشرے میں ایسے درد دل رکھنے والے اساتذہ اور ایسے عقیدت رکھنے والے شاگرد آج بھی موجود ہیں. کہنے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کو تو یہ کتاب کسی شخصیت کا تذکرہ ہے۔ لیکن کتاب کا مطالعہ کرتے ہوئے آپ پر یہ بات کھُلتی ہے کہ آپ یادوں کے ایک ایسے جزیرے یا وادی میں داخل ہو گئے ہیں۔ جہاں ہر طرف شجرہائے سایہ دار ایستادہ ہیں۔ میری ذاتی رائے تو یہ ہے کہ اس کتاب کا مطالعہ ضرور کرنا چاہیئے۔ اس لئے نہیں کہ پشتو کا اعلیٰ ادب پڑھ سکیں بلکہ اس لیئے کہ اس نفسا نفسی کہ دور میں آپ کو یہ چند صفحات ایسے پڑھنے کو ملیں گے جن میں اول و آخر خلوص ہی خلوص ہے۔

پروفیسر اعجاز احمد
شعبہ اردو
گورنمنٹ سپیریئر سائنس کالج
۱۰ نومبر ۲۰۱۵ء



# ژوند د یادونو لاندې

یادونه ښهٔ وي او که بد، د انسان په لاشعور کښې پراتهٔ وي. انسان که هرڅومره کوشش اوکړي چې د دې یادونو نه ځان خلاص کړي او د زړهٔ نه يې چرته لرې اوباسي خو دا کار دومره اسان نهٔ وي. یادونه که خوږهٔ وي نو بنده لهٔ پرې سکون او آرام نصیب شي او که چرې تراخهٔ وې نو دومره بې دمه شي تهٔ به وې چې څوك ترې په زور ځرمن اوباسي او کوشش کوي چې د دغې یادونو نه ځان خلاص کړي، خو څومره مزه چې په خوږو یادونو کښې وي دومره مزه د ژوند په یوه لاره کښې هم نه وي. سړے کهٔ هرڅومره د ژوند په کشالو کښې بوخت وي خو بیا هم چې د فرصت څهٔ لمحات هغه ته پهٔ لاس راشي او ځان له یواځې شي دغه خوږه یادونه د هغهٔ ملګري وي او دے ډېر لرې د خیالونو دنیا ته بوځي او هغه یادونه لکه د فلم د دهٔ د ذهن پهٔ پرده ده تهٔ وار په وار ښکاره کېږي او دے ترې مزه اخلي. دا تسلسل تر هغه وخته پورې نه ماتېږي ترڅو چې دهٔ ته چا آواز نهٔ وي ورکړے او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے پخپله د یادونو د دنیا نه را بهر نۀ شي. خو ډېر کم خلق وي چې دغه یادونه برقرار اوساتي. د وخت د تېرېدو سره ډېر یادونه د ذهن نه وځي خو د يو پښتواني ملګري په ملاوېدو هغه یادونه واپس راشي او دے ډېر بې قراره کړي، خو طائر یو داسې زلمے لیکوال دے چې هغه دغه یادونه ډېر پۀ کمال پۀ کتاب ((ژوند دیادونو لاندې)) کښې یوځائے کړي دي. طائر سره زما ملاقات نۀ دے شوے. صرف د فیس بُك په لار هغه سره زما خبرې اترې او د لیك په حواله لیده کاتۀ شوي دي. هغه وخت په وخت د فیس بُك پۀ لاره خپل لیك کۀ هغه نثر وي او که نظم او که غزل ما سره شریك کوي. په دغه حواله زۀ دا وئیلے شم چې هغه به د مستقبل یو ډېر ښۀ لیکوال وي.

خبره ما دیادونو کوله. اوس راځم دې خبرې له چې طائر څه داسې کمال کړے دے. نو په دې سلسله کښې زۀ دا وایم چې طائر د خپل سکول یو استاذ ((میا نثارالدین صېب)) نه ډېر متاثره وۀ. او هغۀ سره یې بې کچه مینه وه، چونکه دۀ اوس خپل تعلیم د سکول تر حده پورې پوره کړے وۀ او د سکول د چار دېوارۍ نه بهر راوتے و. ظاهره خبره ده چې انسان د ژوند پۀ کشالو کښې اخته شي او ده سره بیا دومره وخت نۀ وي چې روزانه دې یوبل سره ملاؤشي چرته په لار کښې ملاقات اوشي نو بېله خبره ده. د غه حال د طائر سره هم



شوے دے. دے هم د ژوند په کشالو کښې دومره اېنښتے وو، چې د ده مرګ نه اته (۸) نهه (۹) ورځې پس خبرېګي، د مرګ خبر اورېدو سره د هغه د ښو نه زمکه تختي او په تېر شوي وخت پسې افسوس کوي او چې کله یو اځې شي نو هغه ټول یادونه یې مخې ته شي کوم چې یې د خپل استاذ محترم سره تېر کړي وو. ما چې د کمال خبره کړې وه نو هغه دا وه چې دۀ یادونه خپل ذهن او زړۀ کښې خوندي نه کړل بلکه ډېر پۀ ښې طریقې سره هغه ټول یادونو ته یو ترتیب ورکړو او په یو کتابي شکل کښې ((ژوند دیادونو لاندې)) دنیا ته وړاندې کړۀ او خپل محترم استاد ((میانثار الدین صېب)) ته یې هغه مینه ورکړه چې د خپل ځان سره یې نور خلق هم په هغه مئین کړه.

ارشد قمر
شرقي پیران مردان
۲۴ اکتوبر ۲۰۱۵ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حامداً و مصباً اما بعد....

کله چې مې کتاب ويل شروع کړل، نو په کښې ورك شوم او چې کله مې ختم کړو او ترېنه فارغ شوم نو د ماضي د تمامو حالاتو او واقعاتو حسرت او ندامت مى چال په زمانه کښې وپېژندل او مستقبل کښې مې د وفا نور خيال ساتلو غزم او د هغې نقد ثمره مې په لمن کښې وه.

د ښاغلي محمد طاهر عابد طائر مجموعه (ژوند د يادونو لاندې) چې مې کله مطالعه کولو نو د کتاب مينځ ته نۀ وم رسېدلے چې زۀ يې د ماضي حالاتو ته متوجه کړم او د خپل ژوند د يادونو او خاطرو په چپو يې لاهو کړم چې وتل ترينه ګران وو...

د محترم طائر صېب دخپل استاد سره دې بې کچه مينې او محبت او خلوص يو ځل بيا زما په زړۀ کښې تېر يادونه او خاطرې را ژوندۍ کړې او د خپلو اکابرېنو او مشائخو يو لوې فهرست مې مخې ته شو- ناڅاپه به دا اشعار را ياد شو



چې:

ملے خاک میں اہل شاں کیسے کیسے
مکیں ہوگئے لا مکاں کیسے کیسے
ہوئے نامور بے نشاں کیسے کیسے
زمیں کھاگئی آسماں کیسے کیسے

يو په کښې شك نشته چې تاريخ دے چې د ولسونو کړښې خوندي ساتي او واقعات پرې کوي... د ځينو اشخاصو کړينې داسې وي، چې نه يواځې تاريخ يې د خپل وير تندې افتخار ګڼي بلکه راتلونکي نسلونه ورباندې هم وياړ کوي، کوم انسان چې د خپل ژوند مقصد پېژندلے وي نو داسې انسان ديو وياړمنې تاريخ درلودنکی وي. د تاريخ په پاڼو کښې ديو ځلانده ستورې په شان ځلېږي او د ده يادونه او خاطرې د خلقو په زړونو باندې حکمرانې کوي او د تل لپاره ژوندے وي لکه يو شاعر وايي:

چې پېدا شوې تا ژړل خلقو خندل
داسې مړ شه چې تۀ خاندې خلق ژاړي

طائر صېب يو داسې موضوع اختيار کړې چې څومره ليکل پرې وشي نو اختتام نه لري، لکه شيخ سعدي وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه حسنش غایتے دارد نه سعدی را سخن پایان
بمیرد تشنه مستسقی و دریا همچنان باقی

اویا دا چې:

ستا د حسن ګلان ډېر دي
جولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

راځم خپل مطلب ته چې د انسان ډېر قیمتي شیز په دنیا کښې وخت او عمر دے، چې د ماضي، حال او مستقبل په خانو تقسیم دے. دا سې کردار او عمل کول چې دۀ لپاره باقیات صالحات او نورو لپاره اسوۀ حسنه وګرځي. خپل اوقات او عمر په ښو خاطرو او یادونو باندې مزین او قیمتي کړي، ځکه چې وخت او عمر د چا انتظار نه کوي لکه عبدالرحمن بابا فرمايي:

بیا یې وار په دنیا نۀ راځي رحمانه
په هر چا باندې چې تېر شي وار د عمر

هرڅه به دنیا کښې وي اومونږ به نه یو، خو زمونږ یادونه او خاطرې به وي.

ہزاروں منزلیں ہوں گیں ہزاروں کارواں ہوں گے
بہاریں ہم کو ڈھونڈیں نہ جانے ہم کہاں ہوں گے



په آخر کښې زه خپل ګران ورور محمد طاهر عابد طائر ته د زړۀ له کومې دعا کوم چې الله تعالی دې ورله په علم و عمل او عمر کښې برکت عطاء کړي. دې کتاب ته شرف قبولیت او په فن د علم کښې دې ورته الله تعالی مزید ترقي ورکړي.

این دعا از من و از جمله جهان
آمین باد

بنده ناچیز مولانا محمد عبیدالله ((فرید))
خطیب و امام مسجد آغه میرجاني شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

دګران کشر محمد طاهر عابد طائر صېب ډېره مننه چې په دې مشېنرۍ دور کښې يې زما والد صېب په ښۀ لفظونو وستائيل. په دې وخت کښې داسې خلق ډېر کم وي چې خپل استاد سره دومره مينه اوکړي، چې د استاد هر لفظ و حرکت په خپل ذهن کښې محفوظ کړي او د استاد د مرګ نه پس هغۀ ټول واقعات خوندي کړي او يو کتابي شکل ورکړي.
يقيناً دا ډېر ګران کار دے خو طائر صېب په خپل هنر او همت ترسره کړو او زما د والد صېب په اړه يې د کورۀ بهر ژوند نۀ هم مونږ ته آګاهي راکړه.
د والد صېب تلو نه پس زمونږ ژوند ډېر نيمګړے دے خو په دې نيمګړتيا کښې مونږ ته خپل مشرانو، تره ګانو او د مياصېب ملګرو ډېر ډاډ راکړے. د هغو ډېر احسان منديو. ورسره د هغۀ مشرانو، د مياصېب ملګرو او زمونږ ملګرو



هم ډېره مننه چا چې په بيمارۍ کښې هم د مياصېب وخت په وخت پوښتنه کړې او د رشته دارۍ، رورولۍ، ملګرتيا او د شاګردۍ ترمينځ د مينې تار يې پريکړېدو ته نه دے پرېښے.
په آخره کښې طائر رور تۀ ده دې کتاب په حقله مبارکي وايم او د ژوند په هر پړاؤ يې شاد او کامران غواړم.

پۀ مينه ډاکټر مياراشد نثار
کلے موسیٰ زۍ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میا صېب لنډه پېژندګلو

| | |
|---|---|
| ◈ نوم: | میاں نثارالدین |
| ◈ د پلار نوم | میاں عبدالمجید |
| ◈ زېږېدنه | ۱۹۵۵ - ۷ - ۱۰ |
| ◈ وفات | ۲۰۱۴ - ۱۰ - ۱۹ |
| ◈ د پیدائش کلے | محله ګهڑی میا ګان موسیٰ زے پېښور |
| ◈ میټرک | پشاور نمبر ۲ سکول جی ټي روډ ۱۹۷۱ ء |
| ◈ ایف اے | ګورنمنټ کالج پېښور ۱۹۷۴ء |
| ◈ بي اے | ۱۹۷۸ء |
| ◈ بي ایډ | ۱۹۸۰ء |
| ◈ ایم اے | انګلش ۱۹۸۴ء |
| ◈ سی ایس ایس | په اول نمبر ۱۹۸۱ء |
| ◈ دنوکرۍ پوسټ | په نمبر ۲ سکول کښې ۲۰۰۷ء |
| ◈ هیډماسټر | په خپل کلي کښې جون ۲۰۱۴ء |
| ◈ اولاد | میاں راشد نثار، میاں عاطف نثار، میاں عادل نثار، میاں کاشف نثار |
| ◈ تخلیقي کار | مضمون نګاري، کالم نګاري د نهم او لسم دپاره نوټسونه |



هغه چا رښتیا وائلي دي چې:

کیا بھروسہ ہے زندگانی کا
آدمی بلبلا ہے پانی کا

هر څومره چې زهٔ د یادونو نه تښتېدل غواړم، خو زما د زړهٔ او ذهن لمن نهٔ پرېږدي. دا څو خبرې ما د خپل ستر استاد اروابناد «میا نثارالدین صېب» په یاد کښې لیکلي، چې هغه زما دپاره ډېر یو غوره انسان وو. او د هغوی ماسره او زما د هغوی سره ډېر ښهٔ وخت تېر شوے وو.

خو افسوس مرګي مونږ خپلو کښې سره دې څو خوږو شېبو ته پرې نهٔ ښودو او سره یې جدا کړو. زما ډېر ارمانونه د میا صېب د وفات نه پس هغه ټول لکه د وچ ګل ورژېدل او زهٔ نیمګړے نیمه خوا پاتې شوم.

ګران میاصېب د خپل ژوند او د خپل چاپېرچل خاندان، یارانو، دوستانو او د خپل شاګردانو دپاره یو مثالي ژوند تېر کړے وهٔ. هغه د علم و عرفان یو روان سمندر وهٔ، چې هرچا به تربنه خپله علمي تنده ماتوله. د میاصېب په طبعیت کښې بلا خوبیانې پرتې وې... عاجزي، انکساري، ظرافت، لطافت، فصاحت دومره په وضاحت سره ښکارېدل، چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم فهمه انسان به هم د هغوی مخ ته وکتل نو پرې پوهه به شو.

مياصېب د مډل سکول يو داسې استاذ وٚ، چې خپل ټول عمر يې د علم پر چار او د علم رڼا خورلو کې تېره کړې وٚ، اميد دے چې دې سره به د ډېرو کورونو نه د جهالت تېرې لرې شوې وي. مياصېب هر څوکه د سکول استاذ وٚ، خو هغوی به خپلو شاګردانو سره د پلار، رور، ملګرې په شان وخت تېرولو... ښۀ مزيدار برابر قد د عاجزۍ لباس يې په غاړه، عينکې يې په سترګو په شرعه برابره ګيره، چې په کښې تور لږ او سپين زيات وو. پاکه لهجه د مخ نه يې صداقت ځلېدۀ، طبعيت يې د خندا طرف نه لږ شان سنجيدګۍ ته زيات مائل وۀ، هر شاګرد ته به يې د زوی په نظر کتل.

د مياصېب د مرګ خبر اورېدو سره زما د پښو نه زمکه اوتښتېده، وارخطا شوم په خپل غوږونو مې باور نه راتلو، سمدستي مې خپلو ملګرو سره د فون په ذريعه رابطه اوکړه ټولو ملګرو باوري کړم او ډېر زيات خفه شوم... او بله د غم خبره دا وه، چې زۀ خبرېدم خبرېدم نو د مياصېب دوفات تقريباً اته، نهه ورځې تېرې شوې وې. په دې لړکښې زمونږ خوږ ملګرے «مفتون غرق وپرق صېب» د ژوند ابتداء



او انتها په خپل دوو شعرونو راغونډوي چې وايي:

د خدائے حکم وو له خاورې را پيدا شوم
لکه ګل نيمګړی ژوند ته په خنده شوم

خوتر پايه مې دژوند سپرلے مل نه شو
ارمانجن ترېنه په نيمه لار جدا شوم

د مياصېب وفات نه تقريباً درې څلورمياشتې مخکښې زۀ، احمد، اجمل، عبدالهادي اوعمرخالد د څه کاردپاره خپل زوړ سکول نمبر ۲ ته تلي وو، نو مونږ د سکول نه باهر د سکول دروازې سره ولاړ وو، چې ناڅاپه مياصېب په خپل موټرسائيکل زمونږ مخې ته ودرېدو مونږ ورسره مصافحه وکړه او د خپلو خبرو مطابق مو ترې تپوس وکړو، چې تاسو چرته روان ياست اودا تاسو ولې دومره کمزورې شوي ياست؟ نو مياصېب په ځواب کې وويل چې:

«ماخو ډېره سنګينه بيماري تېره کړه په سر کښې مې رسولۍ شوې وه د هغې اپرېشن مې وکړو او ډېګري ګارډن ته دمعاينې لپاره روان يم» مونږ پرې دزړۀ دتله خپل غم څرګند کړو........

نوچونکه ما سره او عمر خالد سره يې لږ طبعيت لګېدلی وو نو په تللو تللو کښې يې راته وويل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اوس مَېسج هم نه کوې کله کله خو مَېسج کوه»
دا خبره اوس هم زما په غوږونو کښې کرنګېږي. دا ملاقات زمونږ د مياصېب سره آخري ملاقات وو او داسې سپېرۀ ملاقات وو چې بيا يې مونږ په جنازه کښې هم شرکت ونۀکړو.
په دې باره کښې عثمان علي عثمان ډېر ښۀ وايي چې:

د وير آواز به د هر چم هرې قلاه نه نۀ تلے
کاش چې دا بعضې بعضې خلك د دنيا نه نه تلے

د مياصېب دې غم زۀ داسې بې ځايه کړم چې تر اوسه خپل ځاې ته نه يم راغلے..... او دميا صېب دا يوه خبره ما ډېر بې سُره کړي چې: «کله کله خو مَېسج کوه»
شايد چې مياصېب زما نه ګيله لرله.... او خفه رانه لاړو......

بچھڑا کچھ اس ادا سے کہ رت ہی بدل گئ
اک شخص سارے، شہر کو ویران کرگیا

د مياصېب مرګ زمونږ د زړۀ کورونه وران کړل. بيا د ميا صېب د تعزيت دعا دپاره نهمه، لسمه ورځ پس د جمعې ورځ وه مازيګر وخت کښې د مياصېب (موسى زئى) کلي ته کور ته ورغلو... نوما ځان سره د مياصېب هغه ((فارسي لغت)) هم يوړو کوم چې ماله ميا صېب په لسم جماعت کال ۲۰۱۱ -



۲۰۱۲ کښې راکړے وو...
دا هغه لغت وۀ چې د کوم دپاره ما مياصېب ته يوه ورځ وويل چې:
((سر دا لغت زما ډېر خوښ شوے دے دا ماته راکړئ زۀ به تاسو له بله واخلم))
نو ميا صېب د ځان سره لږ اومسېدو او په ځواب کښې راته وويل چې:
«دا فى الحال ځان سره کېږده چې مادرنه کله وغوښتل نو بيا يې راکړه»
د تعزيت دعا په وخت کښې ماسره عارف الله، اجمل او عمرخالد تلي وو.... زمونږ ملاقات د ميا صېب زوى ((مياعادل نثارصېب)) سره وشو... ما ((عادل نثار صېب)) ته دمياصېب هغه ((فارسي لغت)) پېش کړو نو هغوى راته ووئيل چې:
((دا تاسو له ميا صېب در کړے دے، نو دا تاسو ځان سره د ميا صېب د يوې نښې په توګه کېږدئ))
د ((عادل نثارصېب)) سره مونږ د ميا صېب په ژوند ډېرې خبرې اوکړې، نو ميا عادل نثار صېب مونږ ته د خپل پلار يو څو خاطرې هم بيان کړې چې:
((مياصېب يو ځل غريب رکشې والا ته په فارم باندې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دستخط کړے وۀ، نو وايي چې زۀ يوه ورځ د کور نه باهر ولاړ وم... يو بابا راغے او ماته يې اووئيل، چې ته د استاد زوی يې؟ ما جواب ورکړو، هو! ((زۀ د استاد زوے يم))

نو په تلوار سره يې راته ووئيل چې:

((دې استاد زما نه د يو دستخط په عوض کښې دوه زره روپۍ اخستې دي))

ما ترې تپوس اوکړو چې:

((زما والد صېب درنه پخپله پيسې اخيستې؟))

ويې وئيل: ((نه زۀ يو رکشې والا راوستم او هغه ووئيل چې: استاد ديو دستخط دوه زره روپۍ اخلي او ما ورله ورکړې))

ماښام شو ما خپل والد صېب ته دا خبره اوکړه وايي چې:

((زۀ ورسره په موټر سائيکل سور شوم او د شپې په وخت کښې مونږ دواړه د رکشې والا کور ته لاړو، خو رکشې والا مونږ ته د خپل کور دروازه خلاصه نۀ کړه....!!!))

بيا يې يوبله خوندوره خاطره مونږ سره شريکه کړه چې:

((مياصېب په خپل کلي کښې هيډماسټر شوے وۀ، نو د حکومت له اړخه ورته د اضافي کار حواله شوے وۀ، چې تاته به په ورځ کښې پنځه زره (۵۰۰۰) روپۍ ملاوېږي، ته صرف د کلي په سکولونو ګرځه بلکې يو قسم به نګراني هم کوې.



نو مياصېب درې ورځې دا خپل فرض ترسره کړل، خو ضمير يې پرې مطمئين نۀ وۀ... نو د درې ورځو هغه تنخواه يې ورته واپس کړه او د هغه کار نه يې لاس واخيست. د دې وجهه دا وه، چې مياصېب دا نه غوښتل چې زما د لاس او ژبې نه چاته ضرر ورسي او خدائے پاك ته مې غاړه بنده شي......

بيا د دې خبرې نه پرته ميا عادل نثار صېب مزيد د مياصېب په ژوند رڼا واچوله، چې مياصېب څنګه په ظاهر کښې يو غيرت مند او ښه شريف النفس انسان وۀ. هم دغه رنګ هغه په باطن کښې هم مخلص انسان وۀ، ځکه چې دا مونږ مشاهده کړې ده، چې ځينې خلك رياکار وي او په ظاهر کښې ډېر ښه وي، خو په باطن کې يې په زړۀ کښې نور څۀ پراتۀ وي. داسې خلك شاتو کښې زهر خلقو ته ورکوي. د رياکارۍ په باره کښې صوفي عبدالرحمن بابا هم وايي چې:

د ريا خرقه يې خدائے مه کړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلے قلندر دے

مياصېب ددې شعر يو عَملي نمونه وه. ((ميا عادل نثار صېب)) ووئيل چې:

((د مياصېب په سنګينه بيمارۍ کښې ډاکټرانو په هغه باندې موبائيل بند کړ، نو موبائيل به زياتره وخت له ماسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وۀ، نو هره ورځ به ځلور پنځوو نه زيات رېنګونه راتلل، چا به وئيل چې:
((سر جي ماته په فارم باندې دستخط اوکړه، چا به وئيل چې دې هلك ته په پې، ټي، سي اسائمنټ کښې ښې نمبرې ورکړه، چا به وئيل چې: ((ماله فلاني ځاې کښې داخله وکړه))
په بيمارۍ کښې هم مياصېب د خلقو د بېګار نه خلاص نه وۀ ځکه چې هغه يو صادق انسان وۀ.
په دې دوران کښې ((مياعادل نثار صېب)) د خپل والد د بيمارۍ په وخت کښې د هسپتال يوه عجيبه خاطره مونږ ته بيان کړه، چې سره مونږ هم يو څو خبرې سره اوکړې د خپلو زړونو هغه بوج مو پرې لرې کړو.
هغوی ووئيل چې:
((هسپتال کښې زۀ د کمرې نه باهر راووتم، نو مياصېب راته تلوتلو کښې ووئيل، چې اخبار ورسره راوړه، نو ما باهر نرسې ته ووئيل، چې زما والد صېب ته اخبار يوسه... هغې ورته د اردو اخبار وړے وۀ... نو مياصېب ترې انکاري شوے وۀ.... نو هغې نرسې زما ورور ته اوويل، چې ستاسو والد صېب اخبار غوښتو چې اخبار مې ورله يوړو، نو بيا يې واپس راکړو))
نو زما ورور ورته ووئيل چې:



((هغه د اردو اخبار نه ګوري د انګليش اخبار ګوري))
هغې نرسې په ډېره حيرانۍ ورته ووئيل چې:
((دا خو داسې آن ايجوکېټډ ښکاري))
د مياصېب په طبيعت کښې انکساري دومره په غور ځنګ وه چې خپل ځان يې په هر ځاى کښې نه ښودلو.....
پاتې شوه د مياصېب د قابليت خبره، نو مياصېب په انګليش او اردو کښې ډېر مهارت درلود. په انګلش کښې خو دومره قابل وۀ، چې زمونږ د سکول پرنسيپل ((مولانا پير شبير احمد صېب)) به ورته د انګلش نيکۀ وائيلو او دا حقيقت هم دے، چې واقعي د انګلش نيکۀ وۀ.... مياصېب به د انګلش اخبارونه ډېر کتل او د ميا عادل نثار صېب وينا مطابق چې:
((د مياصېب نه چا تپوس وکړو، چې دا دومره په انګلش کښې مهارت او دا نوي نوي لفظونه د انګلش تاسو کوم ځاې نه پيدا کړو؟...)) نو مياصېب به په ځواب کښې ووئيل چې:
((دا هرڅه ما د انګلش اخبار نه زده کړي)) او مياصېب عادل نثار ووئيل چې:
مياصېب ځلويښت کاله د انګليش اخبار لوستے دے او مونږ ته به يې هم وائيل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«انګلش اخبار ګورئ»

دې سره يې يو علمي خاطره بيان کړه چې:

«مياصيب په کال ۱۹۸۱ء کښې د سي، ايس، ايس پرچه په **۷۵**، **۷۲** نمبرو په اول نمبر پاس کړه، چې دې سره هغه وخت په پېښور کښې مياصيب اول نمبر راغلے وۀ.

وايي چې:

«کله چې مياصيب د انټريو دپاره لاړ، نو هلته ترې امتحان والا ټول تپوسونه په اسلامي حدود کښې اوکړۀ، ځکه چې په هغې کښې يو کس د جماعتي اسلامي پارټۍ غړے وۀ.

نو ميا عادل نثار صيب ووئيل چې:

«په هغه کښې مياصيب په انټريو کښې جواب ورکولو نه قاصر شو... د هغې نه پس بيا مياصيب د تبليغ لمن کلکه اونيوله او د قرآن ترجمه يې هم وکړه.»

ميا عادل نثار صيب د ميا صيب د تعليم پۀ اړه دا وئيل چې يوځل ميا صيب ګورنمنټ کالج لاهور ته د «بي- ايډ» داخلې لپاره تلے وۀ نو ظاهره ده ځان سره ئې خپل ټول اصلي اسناد وړي وو او پۀ يو بټوه کښې ئې محفوظ کړي وو. د راتلو په وخت کښې ريل ګاډي کښې ناست وۀ، نو هغه بټوه ترې چا پټه کړه چې په هغې کښې د هغۀ ټول تعليمي اصلي اسناد



سره د شناختي کارډ او پيسې هم تلې وې، چې دې سره مياصيب ته ډېر تکليف ورسېدو. وايي چې بيا ميا صيب د دې واقعې نه پس ډېر شکسته دل شو او دې واقعې پېښېدلو او رايادولو سره به ئې په ذهن بوج وۀ... نو وايي چې بيا ورله د کور له اړخه ډېر ډاډ او دلاسا ملاؤ شوه... نو مياصيب د دې جوګه شو چې خپل تعليم يې سرته رسولو... په رښتيا هم چې د داسې واقعې پېښېدلو سره د انسان زړۀ ماتېږي خو مياصيب ډېر حوصله مند انسان وۀ او خپل مرام ته يې ځان رسولو. بيا ئې يوبله واقعه راته ذکر کړه، چې په «پي سي» هوټل کښې به د اين، جي، او له اړخه د خيبرپښتونخواه د استاذانو ته ټرينګ ورکول پۀ هغې کښې به مياصيب ته ۳۰۰۰ روپۍ ورځ ملاوېده... خو بې مقصده وۀ مطلب دا چې د تعليم په معيار پوره نه وۀ نو درې ورځې لاړے بيايې په يو ماښام عادل نثارصيب وئېل چې ماته يې ددې خبرې ذکر اوکړو او دغم اظهار ئې پرې را څرګند کړو او راته ئې ووئېل چې:

«دا پيسې خو زما دپاره حرامې دي حلالې نه!»

بيا هغه ځائے ته ورنغے--- دې سره بيا ئې ډېر واقعات مونږ ته بيان کړو چې د مياصيب ډېر شاګردان دي نن سبا په ډېرو غټوغټو سرکاري عهدې نوکريانې کوي. بيا يې ووئېل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په میا صېب کښې یو داسې عادت وۀ چې پۀ مړي ژوندي
کښې به که څوك ډېر هم لرې وو نو ځان به يې ورسولو خپله
حاضري به يې کوله د خپل ژوند سره تړلې رسم رواج ته به
يې ځان حاضر وۀ. د مياصېب جنازه کښې خو چونکه د بده
مرغه زۀ نۀ وم بلکې نصيب مې په کښې نه وو، نو وايي چې
د کلي خلق ټول حيران وو داسې درنه اوغټه جنازه په اول ځل
زمونږ په کلي کښې وشوه. د هر مکتب فکر خاوند په کښې
موجود وۀ. دا وجه هم دا وه چې د مياصېب تعلقات ډېر وو
هرچا سره به يې مړے ژوندے کولو، نو ځکه يې جنازه هم
درنه وه. مياصېب به په خپل کلي او د کلي نه بهر غريب
خلقو سره مدد کولو ډېر زړۀ سواندے انسان وۀ ميا عادل
نثار صېب وئېل چې مياصېب به کله خپله تنخواه واخسته
نو پټ په پټه به يې پۀ هغې کښې غريبانانو له خپله حصه
کوله او مونږ به پرې پوه هم نۀ شو او مياصېب به زيات مدد
د هغو خلقو هغه هلکانو سره کولو کوم خلقو چې به د تعليم
سره شوق وۀ خو د تعليم د خرچو او اخراجاتو توان به يې نۀ
لرلو. داسې خلقو نه به يې تعليمي کاغذونه او اسناد،
تصويرونه واخستل او پخپله به يې ورله په بورډ کښې
داخله وکړه. مياعادل نثار صېب وئېل چې زمونږ پۀ کلي
کښې يو سکول وۀ نو د هغې پرنسپل ته به يې وئېل چې د



غريب ماشومانو نه به نيم فيس اخلې، چې دوی خپل تعليم
جاري اوساتي او په را روان وخت کښې د تعليم رڼا سره مخ
شي د جهالت سره نه.
ميا عادل نثار صېب وئېل چې زمونږ د والد محترم مياصېب
دا ارمان وۀ چې مونږ دې نوکري وکړو خو
(۱۷ ګريډ) والا ... او دا به يې راته هم وئېل چې اخوا ديخوا
نوکري به نه کوئ ۱۷ ګريډ افسر به جوړيږئ ګنې زۀ به يې
درله ګټم تاسو پۀ کور کښېنئ، خورئ او څښئ. بيا يې
ووئيل چې ځنې خلق د پلار نه شرميږي او څه تپوس وغيره
ترې نۀ شی کولے خو مونږ د مياصېب سره په ګپ کښې آزاد
وو مونږ ته يې بلکل يره نه وه ښودلې--- مونږ سره بلکل د
ملګري پۀ شان وۀ، ځکه به ترې مونږ هررنګ سوال کاوه هغه
د تعليم په اړه وۀ که ديو لفظ تپوس کول او که د مذهب په
اړه مونږ ته به يې جواب راکول. د مياصېب مثال زمونږ دپاره
لکه د ((انټرنېټ د ګوګل)) په شان وۀ. او دومره مونږ سره آزاد
وۀ چې کله به ورته د موبائيل په مېسج کښې د خندا لطيفه
وغيره راغله نوماته به يې راولېږله... وايي چې په کور کښې
ډېر خوش اخلاقه وۀ... بلکې مياصېب بهر هم ډېر خوش
اخلاقه وو. په خاندان کښې ټولو ته ګران وۀ. ځکه چې
مياصېب د وړو سره وړوکے او د غټو سره غټ وۀ کله چې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته د سحر وخت ملاؤ شو نو خپلو خپلوانو كره به تلو او د
هغوى د حال احوال تپوس به يې كولو. مياعادل نثار صيب
وئيل چې سحر به يې په كور كښې قهوه پخه كړه او بهر به
يې اويسته د كلي يو څو مشرانو سره به كښېناستو او ګپ به
يې ورسره لګولو او قهوه به يې پرې څښله او بل دا چې
مياصېب كښې يو دا كار وۀ چې ځان سره به يې په جيب
كښې په يو بټوه كښې تورې چائې، چيني او وچ پې (شوده)
ګرځول، چې چرته به يې شپه راغله نو هغه كور والا ته به يې
وئيل چې ماله چينك او پيالۍ راوړه ځان له به يې تور چائې
تيارې كړې ځكه چې مياصېب د تور چائې ډېر شوق لرلو. ډېر
عجيب انسان وۀ چاته به يې د چائې پخولو تكليف هم نۀ
وركولو. ميا عادل نثار صېب وئيل چې مياصېب به د شپې
درې بجې راويښ شو ځان له به يې چائې جوړه كړه او په
كرسۍ به كښېناستو د بيټرۍ په رڼا به يې اخبار كتل... د
كوټې بلب به يې هم نه بلولو. داسې نه چې په كوټه كښې
موجوده خلق د خوب نه وران نه شي تر د سحر د سكول وخت
پورې به مياصېب چائې څښلې او اخبار به يې كتلو. مياعادل
نثار صېب د ځان باره كښې ويل چې زۀ او زما نور ورونه به د
سحر مونځ ته نۀ پاسېدو د ورځې به مو نور مونځونه كول
خو د سحر مونځ به راته ګران وۀ. نو مياصېب به راته ويل



چې مونځ كوئ د مونځ نه خلاصې نشته دا فرض دے او
فرض به ضرور ادا كوئ.

ويل يې چې د مياصېب ډېر ارمان وۀ چې مونږ ټول رونه
سى، اېس، اېس وكړو او زۀ درسره پۀ هغې كښې مدد اوكړم
مياعادل نثار صېب ويل چې زمونږ پۀ كلي كښې ډېر مالداره
خانان شته او د مياصېب د هغوى سره ډېر ښه تعلقات وو،
نو چې په كلي كښې به د كوم غريب د زوې واده وو نو هغوى
به مياصېب ته ويل چې مونږ سره دې خان له لاړ شه چې مونږ
سره مرسته وكړي ... بيا به مياصېب هغه خان له لاړو د
مياصېب دمخه به يې ورسره مدد كولو. مياصېب په خپل
كلي كښې ډېر مشهور وو او دا اندازه مونږ ته هله اولګېده
چې كله مونږ د مياصېب د تعزيت دعا دپاره د هغوى كلي ته
ورغلو، چې د چانه به مو تپوس وكړو نو هغې به راته لاره
سمه كړه... مياعادل نثارصېب وئيل چې د كلي خلقو مشوره
كړې وه چې په كلي كښې به په يو چوك دمياصېب نوم ږدو
او د كلي د هائى سكول پرنسپل هم وئيل چې زۀ د مياصېب
پۀ نوم يو كتب خانه (لائبريري) جوړوم او د ګورنمنټ سره
پرې خبره كوم... مياعادل نثارصېب ويل چې يو ځل ورته
دكلي خلقو وئيل چې مياصېب تاسو الېكشن ته اودرېږئ نو
مياصېب ورته ووئيل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((زما يقين دے زر به يې اوګتم خو چې دا کوم عزت مې دے نو دا به ختم شي))

الېکشن ته يې غاړه کښې نۀ ښوده... بيا يې وئيل چې مياصېب کله ډېر بيمار شو نو د پايو والا کرسۍ (ويل چيئر) باندې به مونږ ګرځولو... نو يوه ورځ ورله ما (نايي) راوستو چې وېښتۀ ورله سم کړي نايي وئيل چې د کور نه يې را بهر کړئ... ما د کوره را بهر کړو نو سم ډېر خلق ورته راغونډ شو او تپوس به يې ترې کولو، چې مياصېب څنګه يې؟

نو وايي چې بيا ډېر ساعت پس راته مياصېب ويل: ((زۀ چې کور ته ځو زۀ خو نور تنګ شوم چې ښۀ يم او ښۀ يم)).

بيا يې د مياصېب د طنز و مزاح يوه قصه وکړه، چې زمونږ پۀ کلي کښې به يو سړي غلا کوله--- نو ما مياصېب ته وئېل چې: ((ابو دا فلانے سړے د فلاني خان د پټې نه د غنمو ګېډے پټوي)) نو مياصېب راته پۀ خندا کښې وئيل چې: ((دا د دې غل لپاره حلال دے)) نو ما وئيل چې څنګه حلال دے؟... وايي ځکه حلال دي زما پۀ نزد چې دا خانان د خدائے فرض کړے زکوة نۀ ورکوي نو ځکه پۀ داسې خلقو الله پاك هم داسې غلۀ وغيره مسلط کړي. ميا عادل نثار وئيل چې مياصېب به د پيسو پروا نۀ لرله... مطلب دا چې چا به ورته وئيل چې مياصېب فلاني ځائے ته ځو نو د وخت او حالات د



مناسبت سره به ورسره ملګرے شو. دا پام لرنه به يې نۀ کوله چې ماسره پۀ جېب کښې پيسې شته يا نشته... بادشاه سړے وۀ الله تعالی ورله موږ خوی ورکړے وۀ.

وئيل يې چې يوځل مياصېب زما مشر ورو مياعاطف نثار صېب پۀ پښتو کښې مېسج وکړو نو ورته پۀ غصه شو چې:

((تۀ ماته انګلش پۀ پښتو کښې ليکې؟))

نو لۀ دې وجه به ما بيا مياصېب ته مېسج پۀ يره يره کول چې داسې نه ګرائمر (قاعدې) غلطي ونه شي....

د مياصېب پۀ حلقه د ميا صېب د ټولو نه کشر زوی ميا کاشف نثار صېب پۀ مونږ د مياصېب يو ارمان را څرګند کړو چې.... د مياصېب ډېر ارمان وۀ، چې زۀ کله سبك دوش (ريټائرډ) شم، نو په کلي کښې به خپل سکول اوباسم او په ښۀ معياري ټوګه به پۀ کښې د تعليم خورونه کوم...

مياعادل نثار صېب وئيل چې کله پۀ اول ځل مونږ ميا صېب پۀ هسپتال کښې داخل کړو او اپرېشن موورله کولو نو دميا صېب پۀ جيب کښې ما لاس دننه کړو نو ماته پۀ ګوتو کښې څلور، پنځه د داخلو فارمونه راغلل... چونکه پۀ ميا صېب تکليف وۀ نو هرڅۀ ترې هېر شوي وو... نو ما ورته ووئيل چې:

"ابو دا فارمونه د چا دي؟ او دې سره څۀ اوکړم؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ماته یې ووئیل، چې پۀ دې داخلو فارمونو کښې ماته ځینې کسانو پیسې راکړې او ځینې کسانو ته پاتې دي تۀ ورشه دا ټول فارمونه جمع کړه او پیسې په کښې د خپله جیبه واچوه...

نو وایې زۀ بیا لاړم او هغه فارمونه ما پۀ خپلو پیسو جمع کړۀ... نو د دې نه دا خبره را پۀ ډاګه کیږي چې میا صېب به خلقو څومره بېګار کولو او بیا پۀ داسې دور کښې دې کارونو لپاره ځان اوزګارول ډېر مشکل کار دے.

ما به اکثر پۀ سکول کښې د میاصېب نه د اردو الفاظو تپوسونه کول، نو یوه ورځ مې ترې ((لولاك)) لفظ تپوس وکړو، نوماته یې ووئیل چې:

((دا لفظ په قرآن کښې شته؟))

ما ورته په جواب کښې ووئیل ((نه !!))

نو د میاصېب دا طریقه راته اوس هم یاده ده، چې لفظ یې بېل بېل کړو لکه داسې:

لو............ اگر

لا............. نہیں

ک ............ تم ہوتے

د میاصېب د خولې الفاظ چې:

((اگر تم نہ ہوتے))

بیا ډېرې ورځې تېرې شوې.... بیا مې ترې یو ځل بیا دیو



لفظ تپوس وکړو....

هغه وخت میا صېب مونږ سره پۀ لسم کلاس کښې د انګلش پیرډ درلود.... لفظ وۀ ((خوګر)) نو میاصېب ماته دې لفظ باره کښې د مرزا غالب دا مشهور شعر ووئیلو:

رنج سے خوگر ہوا انسان تو مٹ جاتاہے رنج
مشکلیں مجھ پر پڑی اتنی کہ اساں ہو گئیں

چونکه زما د ادب سره ډېره مینه وه، نو ماته به پۀ شاعرۍ کښې د سخت الفاظو ډېر تکلیف وۀ، نو بل ځل مې د میاصېب نه د علامه اقبال ((شکوه جواب، شکوه)) کښې یو لفظ راته ډېر مشکل او سخت ښکارېدۀ، نو تپوس مې ترې اوکړو.....

((خاکم بدهن)) لفظ وۀ، میاصېب بیا دا لفظ داسې بېل بېل کړو.

خاک............... خاوره

م .................. ځان ته اشاره ده ((زۀ))

بدہن ............ په خولۀ کښې

د میاصېب د خولې الفاظ چې:

((زما په خولۀ کښې خاوره))

بیا رو رو میاصېب په ما باندې شکې شو، چې دا الفاظ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



صرف هم په داسې شاعرۍ کښې وي..........

اکثر به ما ځان سره سکول ته د علامه اقبال کتابونه وړل، نو يوه ورځ زۀ د کتاب په سوچ کښې وم، چې اچانك راباندې مياصېب راغے او په موقع يې راسره د شاعرۍ کتابونه اوکتل، ځان سره يې د کلاس نه باهر اويستم... د يخنۍ موسم وۀ، زۀ او مياصېب نمر ته کېناستو... نو مياصېب رانه ډېر ښۀ ښۀ تپوسونه شروع کړل... مياصېب زما نفسيات معلوم کړل، نو راته يې ووئيل چې:

((زۀ هر څوك ځان ته نۀ را نزدې کوم، ځکه چې خلق هر رنګ سوچ کوي او چې کله داسې څوك اوګورم، چې هغه کښې خپله د زده کړې صلاحيت وي، نو هغه سره خواري کوم))

مياصېب هغه وخت کښې ماته دا مشوره راکړه، چې ((فرسټ ائير)) کښې ته آرټس واخله ستا دپاره به ډېر سودمند اوخېژي خپل قابليت به برقرار اوساتې.

دې سره ماته ارواښاد ((محمد اقبال صېب)) او ((حبيب الرحمن صېب)) هم ووئيل چې آرټس واخله.

د ۲۰۱۲ء واقعه ده، چې ما د عبدالرحمن بابا لائبرېرۍ کښې ممبر شپ کولو، نو هغۀ راله فارم راکړو، چې دې باندې د خپل استاد نه دستخط راوړه، ما مياصېب ته کال اوکړو چې سر تاسو چرته ياست هغه اووئيل چې:



((زه خو سکول کښې يم خير شه؟!!))

ما ورته اووئيل چې زۀ سکول ته درځم او ماته په فارم دستخط اوکړه، نو ميا صېب جواب راکړو چې:

((ته ماله د خپل کور پته راکړه زۀ به ستاسو کور ته درشم ته تکليف مه کوه.))

ما د خپل کور پته ورکړه مياصېب په موټر سائيکل راغے د ګرمۍ موسم وۀ.... بېټهك کښې را سره کېناستو ما شربت راوړو مياصېب ښۀ په شوق او څه ما په زوره پرې درې څلور ګيلاسه اوڅښل او ډېرې خبرې مو د ادب او د دين په حواله اوکړې. د دين په باره کښې مونږ خپلې خبرې لږې زيادې کړې، نو مياصېب ماته دا شعر ووئيل چې:

مذہبی بحث میں نے کی ہی نہیں
فالتو عقل مجھ میں تھی ہی نہیں

مياصېب ماته په فارم دستخط اوکړو، نو زما سوچ وۀ چې مهر دپاره به زۀ سکول ته ځم. زما دا سوچ ختم نه وۀ، چې مياصېب د خپل جېب نه مُهر را ووېست ما ډېر اوخندل او مياصېب هم....الله پاك مياصېب له ډېر ښۀ اخلاق ورکړي وو.

جون ۲۰۱۴ء کښې مياصېب په خپل کلي موسیٰ زي کښې د پرائمري سکول هيډماسټر شو. هغه وخت زۀ په فرسټ ائير

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې وم، نو چې کله زه خبر شوم نو بلا تکليف ما مياصېب ته په مېسج کښې د هيډ ماسټرۍ مبارکي ورکړه. مياصېب ډېر خوشحاله شو او په جواب کښې راته ووئيل چې:

((کله چې ستا امتحان ختم شي،نو خپلو ملګرو سره بيا زما کلي ته ((موسٰی زي)) ته راشئ))، خو افسوس چې بيا زۀ ورتګ ته چمتو نه شوم... مياصېب ډېر ايمانداره او متقي انسان وۀ.

يو ځل ترې ما پُښتنه اوکړه چې سر تا سو ولې بورډ ته د پرچو چيك کولو دپاره نه ځئ...؟!!

نو مياصېب ډېر په مشفق انداز کښې راته اووئيل چې:

((ماته بورډ افسران وايي چې راشه ښې پيسې هم راته ملاوېږي خو زۀ يرېږم چرته مې د لاسه زياتے اونه شي، نو بيا يې راته يو د اسلاميات استاد په ګوته کړو چې:

دا فلانے استاذ د اسلاميات استاد دے او دۀ هم په بورډ کښې د انګلش پرچې چيك کړې... آيا دا ظلم نه دے؟!!!))

ما ورته په افسوس ناکه لهجه کښې ووئيل چې:

((بېشکه دا ظلم دے.))

يو ځل زۀ د مياصېب سره په کلاس کښې د ادب په خبرو کښې دومره دننه لاړم، چې ماته يې د غالب يو شعر د هغه وخت د خبرو مناسب ووئيل چې دا شعر غالب د څۀ دپاره



ويلے دے اوس هغه واقعه رانه هېره ده خو هغه شعر راته ياد دے چې:

عاشق ہوئے ہیں آپ بھی اک اور شخص پر
آخر ستم کی کچھ تو مکافات چاہئے

مياصېب به د موقعې په مناسبت سره ډېر د کار شعر ويل... لکه يو ځل د ملك الموت باره کښې خبره راغله، نو مياصېب د غالب يو شعر ووئيل او ورسره يې دمخه واقعه هم ذکر کړه، چې غالب دا شعر څۀ دپاره ويلے وۀ:

تم کون سے تھے ایسے کھرے داد و ستد کے!
کرتا ملک الموت تقاضا کوئی دن اور

يوه ورځ زۀ او اجمل سکول ته څۀ کار پسې لاړو، نو بيا مو مياصېب سره ملاقات وشو. زۀ او مياصېب به چې کله هم يو ځاى شو، نو مونږ به په ادب خبرې کولې، نو ما ترې بې تکلفه تپوس اوکړو چې:

((سر تاسو د غالب شعرونه ډېر زيات وائے دا څۀ وجه ده؟)) نو مياصېب اوخندل او راته يې ووئيل چې:

((افسوس دې وخت کښې غالب نۀ دے ژوندے ګنې زۀ به ټهيك ورغلے وم او بېعت به مې ورسره کړے وے. هغه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيير دے زما ور سره ډېره مينه ده.))

او دا حقيقت هم دے، چې هغه وخت زۀ د غالب په شاعرئ بلکل نه پوهېدم، بيا چې لږ مخکښې کلاسونو ته لاړم او شاعرانو، استادانو سره مې ناسته پاسته قايمه کړه، نو لږلږ پرې پوه شوم... د غالب باره کښې زمونږ ګران استاد ((سيف الله خان دورانی صېب)) به کله کله په خندا کښې وائيل يې:

((غالب بڑا شرارتی شاعر تھااور بہت ذہین بھی تھا))

د دې نه بيا دوه درې مياشتې پس مياصېب يوځل ماته کال کړے وۀ خو زۀ په کالج کښې پيرډ کښې وم، نو پوهه شوے پرې نه وم. د معمول مطابق ما وروسته اوکتل ډېر خفه هم شوم ما بيا خپله مياصېب ته رېنګ اوکړو چې:

((سر بښنه غواړم زۀ په کلاس کښې وم ستاسو په رېنګ پوهه شوے نه وم... خير خو وو چې تاسو کال کړے وو؟))

مياصېب راته ډېر په مشفق انداز کښې ووئيل چې:

((هو! بچيه خير وۀ... مادرنه د غالب ديو شعر تپوس کولو... خو تا کال اوچت نه کړو نو زۀ لائبريرئ ته لاړم... هلته مې اوکتو...!!!))

زه کله کله دا واقعه او منظر را يادوم، نو ډېر زيات حيران شم، چې مياصېب څومره د خوبيانو ډك وۀ، چې هغه زما غوندې کم فهم شاګرد نه هم د غالب د شعر تپوس کولو...))



ما به اکثر غزل ليکل خو د شعر په عروض بلکل نه ووم پوه، چې په شعر کښې چېپ، سيلابونه، بحر وزن خيال ساتل ډېر مهم دي. زۀ دومره پوه وم، چې په شعر کښې قافيه او رديف ډېر لازم دے... نو يو ورځ مې داسې د مازيګر وخت کښې ميا صېب ته خپل بې اصلاح غزل په مسېچ کښې ور ولېږه، نو د ماښام مونځ نه پس ماته مياصېب يو مسېچ اوکړو چې:

((دا تا چې کوم غزل د پښتو ماته رالېږلے دے دا بې اصلاح دے او زۀ درته د دې اصلاح کوم))

لږ ساعت وروسته مياصېب ماته هغه غزل بيا راولېږلو او اصلاح يې ورله کړې وه.... تر ډېر وخته پورې ما به غزل، شعر ليکل بيا چې ما په بي- ايس کښې داخله واخستله، نو د کالج په اوله ورځ زما ملاقات د پښتو ډېر ښۀ شاعر ((پروفيسرسيد شاه سعود صېب)) سره اوشو. هغوی ته مې خپل غزل وړاندې کړو، نو هغوی راله اصلاح اوکړه او د شعر په ليکلو هم پوه يې کړم.

دا شعر ما د مياصېب نه په اول ځل اورېدلے دے، چې تشريح يې هم ورسره کړې ده:

مگس کو باغ میں جانے نہ دیجیو!
کہ ناحق خون پروانے کا ہوگا

د مياصېب نه مونږ تر ډېر حده پورې ډېر څۀ زده کړي که هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند په حواله، د اسلام په حواله، د پښتو، انګلش او که د اردو په حواله کښې میا صېب ډېر مخکښې وۀ، خو په انګلش کښې زمونږ خپله دلچسپي نۀ وه...

په اول ځل زمونږ په نهم کلاس کښې میاصېب سره د انګلش پیرډ راغلے وۀ، نو میاصېب به مونږ ته زیات زور په (Active) او (Passive) باندې راکولو، ځکه چې دا زمونږ په امتحاني پرچه کښې راتلل او راغلي هم وو.

البته چې میاصېب به دا ډېر په مینه او شوق سره ښودل او په دې کښې یې رانه بیا امتحان هم په کاغذ اخستلو، نو بد قسمتي زما دا وه چې زۀ هر ځل د میاصېب په امتحان کښې پاتې راغلے وم. زمونږ د کلاس ملګرو کښې به دهغه هلك مزې وې، چې څوك به عمرخالد سره ناست وۀ، ځکه چې عمرخالد لینګویج کړے وۀ.

دغه رنګ یو ورځ مې د انګلش امتحان فېل کړو، نو کلاس ته ډېر په غصه او خفګان راغلم، نو عمرخالد ته مې خبرې اوکړې، نو عمر خالد راته دا مشوره راکړه چې اوس به میاصېب کلاس ته د سزا دپاره راځي نو ته ورته ووایه چې زۀ په دې نه پوهېږم او د میاصېب سزا به هم داسې عجیبه سزا وه، چې مونږ به خندل....

میاصېب چې کلاس ته راغے نو زما د سزا وار وۀ، نو زۀ یې



یوه چُوکه اووهلم، نو ماته د عمرخالد خبره رایاده شوه، نو ما ورته اووئیل چې:

((سر مونږ ستاسو په سبق نه پوهېږو))

البته نور هلکان پرې پوهېدل زما دا خیال وۀ، چې زۀ نۀ پوهېږم نو ټول نۀ پوهېږي. زما دې خبرې سره میاصېب ماله په غصه کښې په ملا باندې سوك راکړو او په غصه کښې یې راته ووئیل چې:

((ته به نور زما کلاس کښې نه کښېنې))

د میاصېب د کلاس وخت ختم شو، نو عمر خالد میاصېب سره سټاف روم پورې لاړو، نو د عمر خالد د خولې خبره ده چې:

((میاصېب ووئیل چې: دې هلك ډېر ایکشن وانۀ خستو ؟؟))

عمر خالد ورته په ځواب کښې ویلي وو چې:

((سر په دې ډېر هلکان نۀ پوهېږي دا ډېر سخت دے))

په لسم جماعت کښې مونږ سره یو هلك وۀ سبق کښې لږ کمزورے شان وۀ. نو میا صېب په Active Pasive کښې مونږ ټولو نه امتحان واخست نو دې کښې ډېرو هلکانو غلط کړې وۀ او دې کمزوري هلك په لس (۱۰) نمبرو کښې اته (۸) نمبرې واخستې. پۀ کلاس کښې د میا صېب پرې شك شو او نورو هلکانو هم ورته ووئیل چې دې هلك نقل کړے. میا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صېب هغه هلك دويم ځل ځان سره د كمرې نه بهر اويستلو او
په كاغذ ئې ترې امتحان واخست نو هغه هلك پهٔ كښې دوه
(۲) نمبرې راغلې. نو ميا صېب ورته ووئېل چې ډېر وران ئې
او سزا ئې ورته ور نهٔ كړه. ميا صېب به ډېر نهٔ غصه كېدو
بلكې ما زيات تر په لږ شان غصه كښې هم نه وهٔ كتلے. يوه
ورځ ورسره زهٔ د سكول ميدان (گراونډ) كښې ولاړ وم، نو
دې وخت كښې ورله يو ناآشنا سړے راغے او مياصېب ته يې
ووئېل چې:

(ماته دستخط اوكړه):

دې سړي دا لهجه د جاهلو په شان وهٔ... ځكه چې د دستخط
خپل شرائط او معمول وي همداسې ورته مياصېب هم په
ادب سره ووئېل چې:

(تاسو څوك ياست زهٔ خو تاسو نهٔ پېژنم؟)

دې سره هغه سړے په غصه كښې او په بدمعاشۍ سره خبرې
شروع كړې نو مياصېب هم غصه شو تردې چې دوى سره
خپلو كښې خبرې لږې تيزې كړې. دې مينځ كښې نور
استاذان هم راغلل او هغه سړے يې پوهـ كړو او ميا صېب
يې هم پهٔ دلاسه كړو.

د مياصېب غصه به هم عارضي د څه وخت دپاره وه. چاته به
يې په زړهٔ كښې ((گونډې)) نه ساتل ځكه خو يې هرڅوك



صفت كوي. اكثر به مياصېب د نهم او لسم كلاسونو هلكانو
سره د انگلش پيرډ وهٔ، نو كله كله به يې د دريو كلاسونو
هلكان ټول راجمع كړل او باهر به يې په ميدان مونږ ته
انگلش ښودو. په دې كښې به د مزې او خندا مقام وهٔ، چې
مياصېب به ځان سره وړوكے اسپيكر راخستے وهٔ. په دې به
هلكانو ډېر خندل.....!!

د مياصېب په طبيعت كښې د خندا ماده ډېره زياته وه. د
لسم كلاس واقعه رايادہ شوه، چې دا زما نه نهٔ هيرېږي.

يوه ورځ مياصېب زمونږ نه په كاغذ امتحان واخستو، لس
پنځلس دقيقو كښې يې مونږ ته په كلاس كښې خپله نتيجه
واوروله او ورسره ورسره به چې د چا نمبرې كمې وې هغهٔ ته
به يې سزا هم وركوله. مياصېب د انگلش او د اردو ليكلو
كښې ډېر ماهر وهٔ، چې كوم لفظ څهٔ رنگه ليكل كېږي او څهٔ
رنگه ادا كېږي، نو په هغه امتحاني پرچه كښې ټولو خپل
خپل نوم لازم ليكلے وهٔ. په هغې كښې زمونږ گران ملگري
امتياز خپل نوم داسې لږ گډوډ ليكلے وهٔ، نو مياصېب آواز
اوكړو چې هلكه په تاسو كښې ((ټمتياز)) څوك دے؟... سزا
ته دې باهر راشي... يو بل ملگري هم خپل نوم لږ غلط ليكلے
وهٔ، نو مياصېب آواز اوكړو چې ((اول گيد)) دې هم باهر
راشي، دې هلك خپل نوم ((اول سيد)) وهٔ په دې مونږ دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات وخندل، چې دا ملګري مونږ سره اوس هم ملاؤ شي نو مونږ ور پورې خاندو او د شوق او مینې نه ورته هم ددهٔ بدل نوم اخلو.....

یوځل مونږ سره په کلاس کښې یو ملګرے وهٔ چې ((طارق)) نومېدهٔ نو هغه ډېر زیات وران وهٔ، کله چې د میاصېب پرې څنګه پام شو نو بې اختیاره یې ورته ووئیل چې ((رمبیه سم شه))

دې هلك نوم سره اوس مونږ ضرور رمبے لاحقه لګوو...

هرکله به چې په سکول کښې څهٔ پروګرام وهٔ، نو په هغې کښې به میاصېب د اسټېج چارواکې تر لاسه کولې.

میاصېب به په کښې ډېرې ښې ښې لطیفې کولې.....

یوځل یې په پروګرام کښې څهٔ لطیفه شروع کړې وه په نیمه کښې یې لږ پرېښوده، اوس هغه لطیفه زما نه هېره ده، خو بیا تر ډېر وخت پورې به ورته هلکانو وئیل چې:

((سر هغه لطیفه مونږ ته پوره کړه))

میاصېب به هغې له طمه ورکړه، چې بیا به یې درته ووایمه))

زمونږ ګران ملګرے عمر خالد به ډېر ښائسته او په ښه اندازه کښې د انګلش تقریر کولو. یوځل یې په پرګرام کښې تقریر اوکړو، نو میا صېب په خندا کښې دا ووئیل چې:

((عمر خالد دومره ښه تقریر اوکړو لکه چې په ډول کښې



کانړې واچوې او کړنګېږي))

میاصېب به داسې خبرې کولې خو چا به دا نه وئیل چې میاصېب داسې عجیبه خبرې کوي.... د چا زړهٔ به په داسې قسم خبرو نه خفه کېدو....

اصل کښې دا هېڅ هم نه وو... د میاصېب د خلوص نتیجه وه، چې خلك به ترې په اسانه نه خفه کېدو او اکثر په دې کښې زمونږ تجربه هم شوې ده... مونږ خپله کله کله چاته داسې نامه واخلو، چې په هغې کښې خفګان ډېر ښکاري، خو ملګري نهٔ پرې خفه کېږي، ځکه چې ددې نه پرته مونږ هغه ملګري سره مینه هم ډېره زیاته کوو.....

د لسم کلاس پرې بورډ امتحان واقعه رایاده شوه. په پرې بورډ کښې به میاصېب هال ته هسې چکرې راتلو، نو یوه ورځ د انګلش پرچه وه. ما د ((هائی سکول)) په باره کښې مضمون لیکل شروع کړي وهٔ، نو د لفظ ((مشکل)) په انګلش کښې په معنی نه پوهېدم. خواه کښې راسره میاصېب ولاړ وهٔ ما ترې تپوس اوکړو چې:

((سر مشکل ته په انګلش کښې څه وایي؟))

نو میاصېب جواب راکړو چې:

((**Difficult**))

زهٔ حیران شوم چې اوس دا څنګه اولیکم.....

(c) ketabton.com: The Digital Library



مياصېب په خندا شو او ويې وئيل:
((هغه مشکل ترې ښهٔ وهٔ))
هم د دې په شان مياصېب مونږ ته يو لطيفه هم کړې وه، چې زهٔ يې ستاسو نظر ته وړاندې کوم:
(( يو کس د چانه تپوس اوکړو چې ((مشکل)) ته په اردو کښې څهٔ وايي .... نو بل کس ځواب ورکړو چې ((دشوار))....
نو دې اولني کس ورته اووئيل چې: ((هغه مشکل ترې ښهٔ دے))
مياصېب به کله کله داسې عجيبه عجيبه لطيفې ويئلې، چې زمونږ به په خندا خندا طبيعت خراب شو او ماته چې کله د مياصېب لطيفه اوس هم رايادہ شي ډېر ؤخاندم....
يوه بله لطيفه يې کوله چې ما په اول ځل د مياصېب د خولې نه اورېدلې وه.... وايي چې:
((يو سړي هګۍ (انډې) خرڅولې، نو بل کس راغے او هګيو والا سره اودرېد او خپله پښه يې مسلسل خوځوله را خوځوله او ورته وايي چې:
((دې ټوکرۍ کښې څه دي؟))
هګيووالا ورته اووئيل چې:
((فی الحال خو په کښې هګۍ (انډې) دي او که لته دې ورکړه نو بيا هېڅ هم په کښې نشته))



دې سره د مياصېب يو علمي لطيفه رايادېږي چې:
((شتر مرغ يو ځناور دے... او شتر په فارسي کښې ((اوښ)) ته وايي او مرغ خو تاسو پېژنئ... نو د شترمرغ نه چا تپوس اوکړو چې:
((ته ولې سامان نه وړې؟))
شتر مرغ ځواب ورکړو چې:
((ولې زهٔ درته اوښ ښکارم چې سامان يوسم))
بيا ترې چا تپوس اوکړو، چې ته ولې نه الوزې؟))
شترمرغ بيا ځواب ورکړو چې:
((ولې زهٔ څهٔ مارغهٔ يم چې والوزم))
مياصېب تريخ ژوند ته د خوږ مرهم په لګولو ډېر ښه پوهېده. مياصېب کښې دا يو ډېر عجيبه کمال وهٔ، چې مونږ به يې د خندا مړهٔ کړو... نو هغه به کله چې مونږ نه کوم سوال اوکړو داسې به يې اووئيل چې:
((که چا دا سوال حل کړو هغه دپاره د ګوپيانو او چپلو هار په انعام کښې))
کله به چې چا هغه سوال غلط کړو، نو مياصېب به داسې وئيل چې:
((شاباش! ويرې ګوډ)) ډېر نالايقه يې....
په دې به مونږ ډېر زيات وخندل او مياصېب به خپله مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره هم خندل.
دې کښې مهمه خبره داده، چې مياصېب ته معلومات وۀ چې خندا د ژوند يوه حصه ده.
يوځل په لسم جماعت کښې مونږ وو نو د ميا صېب نه چا تپوس اوکړو چې:
(( سر هګۍ (انډه) اول پيدا شوې ده که چرګه؟))
نو مياصېب اوخندل او ورته يې ويل چې:
((انعام راکړه چې د دې ځواب درکړم))
وروسته بيا هغه وخت چا ددې سوال ځواب څۀ پام لرنه ونۀ کړه نو ما ډېر وخت پس چې کله زۀ پۀ کالج کښې وم، نو زما ذهن ته يو ورځ دا سوال راغلے او په دې باوري وم چې ميا صېب سره د دې ځواب شته نو دا سوال مې ترې په مېسج اوکړو نو مياصېب ماته د قرآن مجيد ديو آيات په رڼا کښې ځواب راکړو چې:
((هګۍ اول پيدا شوې، ځکه چې الله پاك په قرآن مجيد کښې فرمايي:
مونږ ژوندي د مړو نه پيدا کوو او مړي د ژوندو نه پيدا کوو))
نو واقعي مياصېب ډېر ژوره مطالعه لرله.
مياصېب چې څومره د انګلش په ميدان کښې مخکښې وۀ



هغۀ دغه رنګ د اردو په ميدان کښې هم کافي حده پورې معلومات درلودل.
يو ځل زما د لسم کلاس د پرې بورډ د ((اردو)) پرچه وه، نو ما خپله پرچه مکمل کړه، دې وخت کښې مياصېب راغے او زما پرچه باندې يې خپل نظر تېره کړو، بيا يې د سترګو نه چشمې لرې کړې او هم په دې الفاظ يې راته ووئيل چې:
((ډېره ښه پرچه دې کړې خو افسوس چې ښۀ استاذ يې اوګورې))
مياصېب له الله پاك ډېر قدر او عزت ورکړے وۀ. په سکول کښې او د سکول نه باهر خلقو ډېر قدر کولو، ځکه چې مياصېب به خپله د خلکو ډېر عزت او احترام کولو.
د پشاور پرېس کلب لۀ اړخه د منشياتو د روك تهام باره کښې يو پروګرام وۀ، چې په هغې کښې دهر سکول نه هلکانو ته دعوت وۀ چې کوم کسان ښکلې تصويرونه جوړلے شي، نو مياصېب د هغې پروګرام په برخه کښې زما او د سجاد خان نومونه درج کړل. مونږ يو خيالي د يو ((پوډرې انسان)) انځور جوړ کړو. مونږ ته يې دا نۀ وو ويلې چې په فلانکې ورځ به ((پشاور پرېس کلب)) ته ځو.
اچانك مياصېب رانه يوه ورځ تپوس اوکړو، چې تا هغه تصويران جوړ کړې... ما جوړ کړې وو خو رانه کور پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي وو. سجادخان ځان سره راوړي وو. میاصېب راته ووئیل چې راځه ستا کور ته په موټر سائیکل ځو او هغه تصویرونه راوړو....

زه او میاصېب دواړه په موټر سائیکل سوارهٔ شو په لاره کښې بیا مونږ د ادب په حواله خبرې شروع کړې، چې کله مونږ د لاهورۍ دروازې سره نژدې شو، نو میاصېب ماته دوه داسې نصیحتونه اوکړل چې اوس هم زما په زړهٔ او ذهن کې پراتهٔ دي.

اول نصیحت یې راته دا اوکړو چې:

((کله هم افسر شوې نو د خپلې اولنۍ تنخواه پیسو کښې به نیمې پیسې خپلې خوریانو له ورکړې))

دویم نصحیت یې راته ډېر زیات مهم او د کانړي کرښه اوکړه چې:

((کله هم استاذ شوې نو د هلك جېب او ((رنګ)) ته به نهٔ ګورې په دې کښې ستا د دنیا او آخرت تاوان دے))

دا خبره ډېر حقیقت لرې په دې زمونږ مشاهده شوې ده.

خلاصه دا چې زمونږ کور ته راورسېدو زهٔ زر لاړم هغه تصویرونه مې باهر راووېستل، نو میاصېب د یو دکاندار سره ولاړې چېلۍ ته یې پانړې ورکولې.

ما ترې تپوس اوکړ چې ((سر دا ولې؟))



نو میاصېب په خندا خندا کښې راته ووئیل چې: ((چیلۍ زما ډېرې خوښې دي.))

بیا په ۲۸ ستمبر کال ۲۰۱۱ء کښې زه، سجادخان اومیاصېب پشاور پرېس کلب ته لاړو. د پرس کلب په دوازه کښې یو کتابونو والا ناست وهٔ. میاصېب د هغهٔ نه د غالب دېوان واخیست او نور بیا دننه ورغلو. په کرسو کښې مونږ ښهٔ په آرام کښېناستو. سجاد خان سره کېمره وه هغهٔ تصویران هم ووېستل، چې هغهٔ سره اوس یو هم نشته.....

بیا په خپل وار باندې میاصېب استېج ته ورغے او د ((منشیاتو د روك تهام)) باره کښې په اردو کښې یې ښې ګټورې خبرې اوکړې او ورسره یې د داغ دهلوي یو دوه شعرونه ووئیل. پروګرام په ختمېدو شو مونږ ته یې یو سند هم راکړو، بیا د چائې وخت شو مونږ میاصېب سره کښېناستو او میاصېب به ماته بیکري مخې ته کوله... د میاصېب یو ډېره ښه لطیفه رایاد شوه، چې ما په اول ځل دمیا صېب د خولې نه اورېدلې وه. لطیفه څهٔ داسې ده چې:

((یو پټواري ته چا اووئیل چې ماله خط اولیکه هغه ورته سمدستې ځواب ورکړو، چې بیا مې پښې خوګېږي، هغه بل کس ترې تپوس اوکړو چې خط خو په لاس لیکلے کېږي او خوګېږي ستا پښې؟.....))

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټواري ورته اووئیل چې کله زۀ خط اولیکم او هغه خط بل کلي ته لاړ شي، نو زما په خط څوك نۀ پوهېږي، نو بیا مجبوري وي چې زۀ لاړشم او ورته هغه خط ولولم، نو ددې وجهې نه بیا زما پښې خوګېږي.

دا لطیفه یې هغه هلکانو په باره کښې ویلې وه، چې دچا به خط ډېر زیات خراب وۀ.

ما به اکثر میاصېب ته په موبائیل ښه معیاري شاعري لېږله.

ما ورته یوځل د فیض احمد فیض یو غزل ولېږلو، نو میاصېب ماته په کښې د فیض دوه شعرونه راولېږل، چې ورسره تاریخ او وخت هم درج دے:

چاہے دوزخ میں ہے ملے نہ ملے
شیخ صاحب سے جان تو چھوٹے گی

بہشت میں بھی ملا ہے مجھے عذاب الیم
یہاں بھی مولوی صاحب ہیں میرے ہمسائے

دا شعرونه یې ماته په ۱۲ دسمبر کال ۲۰۱۲ء کښې د ماښام په وخت ۰۵:۱۲ بجې رالېږلي وۀ.

]وخته څۀ بې وخته لۀ ملګرو دې جدا کړم
محفل هغه محفل دے خو یاران مې په کښې نشته

هرچا چې دا شعر لیکلے دے، نو زما په نبض یې لاس ایښے دے... دا واقعي خبره ده. هم هغه سکول دے اوس خو د



ګوتو په شمار په کښې استاذان پاتې دي. زۀ زیاتره سکول ته نۀ ځم، ځکه چې په کښې زما د ماضي ډېر خواږه خواږه یادونه دي او په تېره تېره د میاصېب یاد راته راځي، نو په دې حال کښې خپل زړۀ ته په دې شعر کښې داسې ډاډګېرنه ورکوم:

جہاں بھولی ہوئی یاد آ کے دامن تھام لے دل کا
وہاں سے اجنبی بن کر گزر جاناہی بہتر ہے

خو بیا مې هم زړۀ نه قلارېږي... ماته دا منظر یاد دے رانه نۀ هېرېږي چې په سکول کښې زمونږ اخري ورځ وه.... ټولو ملګرو، استاذانو سره تصویرونه ووېستل، نو زۀ میاصېب پسې ګرځېدم، میاصېب ما د سکول په میدان (ګراونډ) کښې پیدا کړو. میاصېب د سټېج په یو پوړۍ ناست وۀ او موسم د یخنۍ وه. زۀ راغلم میاصېب سره کښېناستم ما ورته په خوشحالۍ کښې ووئیل چې:

((سر زۀ تاسو پسې سکول کښې ګرځم او تاسو دلته یواځې ناست یاست! ولې....؟؟))

نو میاصېب ځواب راکړو چې:

((یاره! لږه یخني مې کېده او په دې رجسټر کښې لږ کار هم پاتې وۀ، نو دلته لږ نمر ته کښېناستم))

ما ورته په تلوار سره ووئیل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((سر زهٔ غواړم ستاسو یو تصویر اوباسم))

میاصېب راته ډېره په ښائسته لهجه کښې ووئیل چې:

(( هن.........خه!))

ما د میاصېب یو دوه تصویران اوبستل، چې بیا زما د لاپرواهۍ د وجهې رانه خراب شول، خو د هغه میدان او هغه د سټېج پوړۍ رانه نۀ هېرېږي.

زۀ به چې کله هم میاصېب سره ملاوشوم نو ما به ترې ډېر سوالونه کول او زما دا اوس هم عادت دے چې کوم عالم دین، شاعر، استاذ یا یو مشر سره ملاؤشم نو تپوسونه ترې کوم... هغه که د علم باره کښې وي اوکه د دنیا او که څۀ نور کار وغیره وي او دا پکار هم دي، چې سوال دخپل حد په دایره کښې اوشي... زمونږ د استاذانو خبره چې ((جوزیادہ سوال کرے گا' وہ زیادہ علم حاصل کرے گا))

دې تپوسونو سره به زمونږ په ژوند کښې راولاړې ټولې کشالې حل کېږي او په علم کښې به اضافه او وسعت پیدا کېږي او یقیناً زمونږ د ژوند د تېرولو دپاره هم د هغه ګټوره لاره ده.

د میاصېب سره خبرو اترو، سوال او ځواب کښې راته میاصېب اووئیل چې:

((زما د نوکرۍ دېرش کاله پوره شول په دې دېرشو کالو



کښې ما د ډېرې مجبورۍ نه ځان له یو موټرسائیکل واخیستو او زما کور تر اوسه پورې کچه (خام) دے، ما نوے کړے نۀ دے یعنی پوخ کړے مې نه دے او دا بلکل رښتیا خبره ده چې کله زۀ، عارف، عمرخالد او اجمل د میاصېب تعزیت دپاره د هغوی کور ته لاړو، نو هم هغه شانې کور یې وۀ. ما سوچ اوکړو چې واقعي میاصېب په صداقت باندې خپل ژوند تېر کړو....

دا منظر په یقین سره زما د کلاس ملګرو نه به هېروي، خو ماته داسې یاد دے لکه دا اوس ساعت... مونږ په لسم کلاس کښې وو... او مونږ ته درې میاشتې چهټیانې ملاو شوې. په یو حساب زمونږ اخري ورځ وه نو میاصېب په هغه ورځ هم مونږ له خپل د انګلش نوټسونه راکړل او د هغې پیسې یې لا تر اوسه پورې وانخستې... د داسې شخصیت ښۀ هېرول زۀ ډېر بد ګنړم...

بیا څۀ ډېر وخت پس ما میا عادل نثار صېب سره پۀ فون رابطه اوکړه چې مونږ به د میا صېب ملګرو سره ملاقات کوو چې هغوی د میاصېب پۀ اړه څۀ تاثرات لري... او د هغوی سره د میاصېب خنګه او په څۀ ډول ناسته ولاړه شوې... نو مونږ بیا یوه ورځ اوټاکله چې د میاصېب ملګري ډېر دې هم په کلي کښې او هم پۀ ښار کښې خو تر خپله وسه پورې به مونږ په کښې ځینو ځینو سره ملاقات وکړو....

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ◈ډاکټر نصیر احمد:

ډاکټر نصیر احمد صېب د میاصېب ډېر نزدې دوست دے. نصیر احمدصېب خپله د ډېر کمال خاوند او ادبي انسان دے. حاضر وخت د خلیل مهمند کېمرج سکول چېرمین دے. ډاکټر نصیر احمد صېب د میاصېب په ژوند مونږ ته یو مختصره شان رڼا واچوله، او د میاصېب په مرګ ډېر خفه وو او وئیلې یې چې مرګ زمونږ نه یو ښه دوست، ورور جدا کړو... د خپلو خبرو وضاحت یې په دې ډول وکړو چې میاصېب یو با عمله با ضمیره، قابل او حساس علمي، ذوق لرلو... خو یوائې تر دې حده نۀ چې د علم مجنون وو، بلکې ورسره په کښې چې کوم اوصاف وو هغه یې د سیرت، صورت او شخصیت داسې عکاسي کوله لکه څنګه چې ملغلره په هر اړخ برېښنا کوي... ډاکټر صېب د خپلو خبرو لږ وضاحت نور وکړو چې میاصېب ډېر خوش اخلاق، مهذب، خاکسار او د اخلاص و محبت نۀ ډك طبیعت لرلو. د معاشرې د حالاتو، واقعاتو د ژوند د کړکېچنو مسئلو نبض شناس وو... او د دې مسئلو د حل کولو یا مقابلې کولو یو لوی استاذ وو... د ژوند پۀ مثبت اړخونو یې کوشش کړے وو. ودۀ یې ورکړې وه او د ژوند منفي اړخونه یې د مثبت اړخونو پۀ قوت حاصل کړي وو. ډاکټر صېب ډېر په



خفګان سره د یو خبرې اظهار وکړو چې میاصېب به ماته زما د سکول په اړه څه داسې خبرې کولې چې مابه نه منل، خو اوس د میاصېب هغۀ خبرو ته ما ځان تسلیم کړو. او منم یې... د دې خبرې نه مونږ ته د میاصېب دور اندیشي معلومېږي، چې د هغوی نظر صرف په حال نه بلکې د مستقبل لپاره به یې هم سوچ کولو... ویل یې چې میاصېب به ماله سکول ته کله کله راتلو او په هغې کښې به یې علمي اصلاحات کول... چې د هغه په برکت به سکول ودۀ کوله. ویل یې چې د سکول په میټنګونو کښې به هم میاصېب مونږ سره شریك وو. او استاذانو ته به یې د درس او تدریس طریقې ښودلې... چې کله به ماته څۀ مسئله پېښه شوه نو ما به زر میاصېب سره مشوره وکړه او د هغې څه حل به راوتو... ډاکټر صېب مونږ سره د میاصېب یو خاطره شریکه کړه. چې یو ځل میاصېب څۀ ضروري کار پیسې روان وو تادي پرې وه... دې وخت کښې یو نامعلوم سړے راغلې او د میاصېب نه یې څۀ تپوس اوکړو نو میاصېب هغه خپل ضروري کار پرېښودو او ورسره روان شو. او هم په دې اخلاص کښې به میاصېب مېړنے وو چې د هرچا به پکار راتلو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



### شمس السلام صېب:

شمس السلام چې اوس وخت کښې پرنسپل دے او خپل تعليمي هلوځول کښې مصروف دے او پۀ خپل لنډتنګ وخت کښې يې مونږ له وخت ويستو او د مياصېب په ژوند يې راته يو څو ګټورې خبرې اوکړې... شمس السلام صېب او مياصېب په کال ۱۹۸۲ء کښې بطورِ د سکول د ((ډرائينګ)) استاد په حېثيت يوځاې شوے وۀ او بيا په ۱۹۸۸ء کښې مياصېب ايس-ايس-ټي شو او د وخت سره سره د دوی پرومو شن کېدو. په نمبر ۲ سکول کښې هم شمس السلام صېب اومياصېب ۵ کاله يوځائے وو شمس السلام صېب د مياصېب پۀ اړه ډېر ښۀ معلومات راکړو... و وئيل چې زما او د مياصېب پۀ خپلو کښې رورولي وه پۀ ګپ شپ کښې هم به مونږ يوبل سره آزاد وو... وئيل يې چې کله به زۀ خپل کور کښې يواځې وم او يا به د مياصېب پۀ کلي کښې څۀ مسئله وه نو مياصېب به ما ځان سره خپل کور ته راوستو. او شپه به يې راسره اوکړه. وايي چې ما به مياصېب ډېر چېړل کله به مې ترې کتاب پټ کړو، کله به مې ترې موبائيل پټ کړو... څنګه چې مونږ د مياصېب د چائيو د عادت پۀ باره کښې ذکر کړے وۀ، نو شمس السلام صېب هم داسې وئيل چې چائے او وچ پی. به يې ځان سره



ګرځول... وايي چې ما به مياصېب ته پۀ خندا کښې وئيل چې: "مياصېب ما به د شپې نه چيړې... او خوب به راله نه خرابوې... دا بېټك دے او خواکښې ورسره باورچي خانه ده چې څۀ دې هم پکار وي ورځه ورته..." وايي چې کله به زۀ د شپې راويښ شوم نو مياصېب به چائے څښکل او اخبار به يې کتل... وئيل يې چې مابه ورته وئيل: "ته خو ټوله ورځ نااوزګار يې او تر د شپې ناوخته پورې مصروف يې نو دا کوم وخت کښې خپله مطالعه کوې؟" نو راته به يې وئيل چې: "بس چې د شپې د خوبه را بيدار شم نو مطالعه کوم"... وئيل: "چې کله پۀ سيمونو کښې پيکج وغېره راوتل نو بيا به مې مياصېب په موبائيل تنګول" وايي چې مياصېب د غاښونو نه کمزورے وۀ، نو چې کله به مونږ ملګرو خپلو کښې د کبانو پروګرام اوکړو نو کبانو سره د ذائقې او خوند دپاره ((سرکه)) هم ږدي .... نو مياصېب به په هر شي کښې د ډوډۍ وخت کښې ځان له ډوډۍ ماتوله (چورې کوله) نو په ((سرکه)) کښې به يې ډوډۍ ځان له ماته کړه... او د مياصېب د غاښونو په اړه مياعادل نثار صېب وئيل چې مياصېب به د غاښونو ډېر خيال ساتل پۀ ورځ کښې به يې خامخا پنځه ځل مسواك استعمالوو.

شمس السلام صېب د خپلو خبرو لړۍ برقرار اوساتله او وئيل يې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ چې د نمبر ۲ سکول نه لاړم نو بيا به مې هم د مياصېب سره ملاقاتونه کېدل... نو چې کله به هم زۀ نمبر ۲ سکول ته د مياصېب ملاقات له راغلم نو مياصېب به پۀ ((سټاف روم)) کښې د قهوې وغېره لنګر چلولو... او هره ورځ به يې پـه سټاف روم کښې موجوده استاذانو باندې قهوه څښله او د چائيو خرڅه به ټوله مياصېب کوله... او دا خبره حقيقت هم دے چې يوځل زما ملاقات د حبيب الرحمن صېب سره اوشو چې ما سره عمرخالد ملګرے وۀ. حبيب الرحمن صېب هم د مياصېب د قهوې صفت راته وکړو چې:

"مياصېب پـه قهوه پخولو کښې ډېر ماهر وۀ او مونږ تـه يې اوس هم د قهوې هغه لنګر ياد دے چې پۀ ډېر اخلاص سره به يې مونږ له قهوه پخوله" شمس السلام صېب وئيل، چې ما به ورله کور کښې چائے پخولو نو ما به ورتـه چائے اوښودې چې څنګه دي؟

په چائے به هم پوهېدو... چې د رنګ والا چائے به وو نو نۀ به څښکله... بغېر رنګ والا چائے يې څښکله... دې خبرې سره ميا عادل نثار صېب وئيل چې کله به ميا صېب زۀ ښار ته رالېږلم نو د "مصالحې" يا چائيو وغېره پسې نو باقاعده به يې راتـه دکان پـه ګوته کړو چې فلانې ځائے کښې به د فلانې دکاندار نـه به مصالحه او فلانې نه به چائے راواخلې...



((شمس السلام صېب)) وئيل چې ما به کله کله مياصېب غصه کولو د پاره ورته وئيل چې:

"مړه کښېنه نالائقه!" خو نـه بـه غصه کېدو... وئيـل يې چې بيا بچو ورلـه کلـه انټرنيټ برابر کړو... نو د سحر مونځ نـه بـه يې مخکښې ايکسپريس نيوز کتل...

د ميا صېب د انګلش پـه اړه شمس السلام صېب هم ډېر حېران وو چې ده پـه انګلش دومره څنګه عبور حاصل کړے وۀ... بيا يې وئيل چې زما پۀ کوڅه کښې هم د مياصېب يو څو ملګري وو ، چې کله به مياصېب راغے نو بيا بـه هغه ټول ورتـه راغونډ شول او ګپ به مو ورسره لګول... وئيـل يې چې مياصېب ډېر باهمت انسان وۀ... دا به پۀ سائيکل باندې کلي تـه تلو راتلو... تر ډېر وخت پورې مياصېب پـه سائيکل ګرځېدو...

وئيـل يـې چـې "اوس مـونږ ملګـري چـې راغونـډ شـو ، نـو د مياصېب کمی په کښې ډېر محسوسه وو... " د دې خبرو پـه لړ کښې ميا عادل نثار صېب د مياصېب يو عادت بيان کړو چې د ناشستې حلوه يې ډېره خوښه وه... اکثر چې پـه ګاډو خرڅېږي نو دې له به اودرېدو او حلوه به يې ترې خوړه... شمس السلام صېب راته يو "نايي" پـه ګوته کړو چې کله کله بـه مياصېب هغـه ته پـه زمکه کښېناستو خپل وېښته به يې پرې سمول... او اوس هم چې زۀ کله پـه هغـه لار را تېر شم او هغۀ نايي تـه وګورم نـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته میاصېب را یاد شي... د شمس السلام صېب سره د تفصیلي خبرو نه پس میاعادل نثار صېب زمونږ ملاقات بل ملګري سره اوکړو.



## ◈حاجي ګل زاده صېب:

د میاصېب د وړوکوالي ملګرے وو... د عمر په لحاظ ترې میاصېب لږ شان مشر وۀ. حاجي ګل زاده صېب او میاصېب په یو سکول کښې زده کړه کړې، خو د سکول د جماعت په نزد میاصېب ترې یو څو جماعت مخکښې وۀ. حاجي ګل زاده صېب هم د میاصېب مقصدي ژوند په اړه راته یو څو خبرې اوکړې... وئیل یې چې میاصېب د مذهب په میدان او د سیاست په میدان کښې ډېر مخکښې وۀ... میا صېب یو نر پښتون او پوخ تبلیغي سړے وۀ او زمونږ په کلي کښې یو معزز تبلیغي وۀ... زمونږ به یې ډېره رهنمایي، اصلاح کوله... وئیل یې چې میاصېب دومره همدرد انسان وۀ چې په چا به څۀ تکلیف وۀ نو هغه به وئیل نه میاصېب به ترې خپله پښتنه کوله چې څۀ حال دے؟ حاجي ګل زاده صېب په خپل کلي کښې یو وړوکے شان د دوایي (مېډېسن) دکان دے نو وئیل یې چې زما کله په ښار کښې دکان وۀ نو چې میاصېب به کله سکول ته تلو نو هم به راسره ملاوېدو او چې کله به د سکول نه فارغ شو نو هم به راسره ملاوېدو... بیا چې کله کلي ته راغلم نو شپې به راسره تر ناوخته پورې ناست وۀ، ګپ به مې ورسره لګول. د دې خبرو سره حاجي ګل زاده صېب لږ ژړغونے شانې شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حاجي ګل زاده صېب دې يوې خبرې زما هم طبيعت لږ ګډوډ کړو چې مياصېب د هيرولو نه وۀ، خو مونږ په زوره هېر کړو، واقعي چې مونږ څو څو ځله کوشش وکړو چې مياصېب هېر کړو خو مياصېب نۀ هېرېږي د هغه يوه يوه خبره را يادېږي... دې خبرو په مينځ کښې مياعادل نثار صېب وئيل چې مياصېب څنګه پۀ هسپتال کښې به مونږ ته وئيل چې ماله فلانے شے راوړئ نو هم داسې به يې «حاجي ګل زاده صېب» ته فون وکړو او لکه د رور پۀ شان به يې ورته ووئيل چې راځې نو ماله درسره کهير يا فرني راوړه...

حاجي ګل زاده صېب وئيل چې مياصېب دومره ساده او دومره اعتمادي انسان وۀ چې ماسره به ناست وۀ او جينکو به ورته فون اوکړو او تر ډېر وخته پورې به ترې سوالونه تپوس کول.

حاجي ګل زاده صېب د زړۀ نه ډېر کمزورے وۀ نور توان يې ونۀ لرل او د سترګو يې اوښکې روانې شوې او مونږ ته هم دا مناسب ښکاره نه شو چې زاړۀ يادونه ورله را تازه کړو او په زخمونو يې مالګې اودوړوو او دلته مو ورسره خپلې خبرې راغونډې کړې.



## ◈منيجر عنايت الله صېب:

منيجر عنايت الله صېب چې په دې وخت کښې پۀ بينک کښې د منيجر پۀ توګه خپل خدمات ترسره کوي... منيجر عنايت الله صېب د ميا صېب کلي وال هم دے او د **۴۰-۳۵** کلونو يې دوستانه هم ورسره وه... منيجر عنايت الله صېب وئيل چې زۀ او ميا صېب د يوبل پۀ طبيعت ډېر پوه وو او چې کله به ماته څه مسئله را پېښه شوه يا به مياصېب ته نو مونږ زر يوبل سره ملاؤ شو او څه حل به مو ورته را ويستو... بيا يې د مياصېب سره د مينې پۀ اظهار کښې د خپلو خبرو وضاحت داسې اوکړو چې:

"زما د بينک پۀ اړه به مياصېب سره ډېر معلومات وو او مياصېب د تعليم په اړه به ما سره وو... چې کله به ما په محفل کښې د تعليم په اړه خبرې کولې... نو خلق به راته حېران شول او راته به يې وئيل چې: «تۀ څۀ تعليمي اداره کښې ملازم يې چې د تعليم په اړه دومره معلومات لرې؟»"

نو وايي چې:

"ما به د مياصېب حواله ورکړه چې دا هر څۀ ما د مياصېب نه زده کړي دي او کله چې به مياصېب په کوم محفل کښې د بينک پۀ اړه څۀ خبرې کولې نو خلقو به ترې پۀ تعجب سره تپوس

وکړو چې:

"تهٔ بینك كښې منیجر یې چې دومره معلومات درسره دي؟"

نو وایې چې میاصیب به زما حواله ورکړه چې دا ټول معلومات ماته دیو ملګري نه ترلاسه کیږي.

منیجر عنایت الله صیب د میاصیب یوه واقعه مونږ ته ذکر کړه چې:

یوه ورځ زهٔ او میاصیب په لاره کښې په داسې چاق چاق قدمونو تېز تېز روان وو، نو مونږ سره دریم ملګرے هم مل شو... نو د هغه ملګري زمونږ تېز رفتارۍ ته پام شو نو راته یې وئیل چې:

"هلکه څه هامته جامته روان وئ"

نو په دې کښې ورته میاصیب ډېر ښائسته او د خندا ډك جواب ورکړو چې:

"کسان گدھوں کو ہانک رہے تھے اور گدھے بچارے کسان کی وجہ سے ھینک رہے تھے"

نو هغه خبره یې خندا پلو ته بوتله.

منیجر عنایت الله صیب وئیل چې ټوله ورځ د بینك پهٔ کارونو کښې او حسابونو کښې به ډېر ستړے شوم... په اعصابو به مې بوج وهٔ، نو چې میاصیب سره به مې ملاقات وکړو نو هغه ستړیا به مې بالکل ختمه شوه... او پهٔ ګپ شپ به مو خپل ټول



تکلیفونه هرڅهٔ تر څهٔ وخت دپاره هېر کړل...

منجیر عنایت الله صیب د میاصیب د تعلیم او د مطالعې پهٔ اړه دا وئیل چې زهٔ او میاصیب به تر ډېر ناوخته پورې د میاصیب پهٔ حجره کښې ناست وو او خپله مطالعه به مو کوله... کله کله داسې شپې راغلې چې مونږ به تر سهاره پورې ویښ وو او په خپله مطالعه کښې به مصروف وو... چې سهار به شو نو زهٔ به خپل دفتر ته لاړم او میاصیب به خپل سکول ته لاړے... وئیل یې چې زهٔ او میا صیب یوبل سره دومره نژدې وو چې زهٔ به چې حکومت له طرفه کوم ځاې ته (ټرینګ) ته لاړم... نو میا صیب ته به زما ځائے معلوم وهٔ او میاصیب به چې په کوم ځائے پهٔ ټرینګ کښې وهٔ نو هغه به ماته معلوم وهٔ... او صرف تردې پورې زما او د میا صیب معلومات محدود نه وو چې مونږ ته به دیوبل ځائے معلوم وو؟ بلکې چې موقع به ملاوېده نو یوبل له به د ټرینګ ځائے ته هم ورتلو.

وئیل یې چې کله به دبینك له اړخه څهٔ پروګرام وهٔ او په هغې کښې به د یار دوست اجازت هم وهٔ، نو ما به ځان سره میاصیب بوتلو... او چې د میاصیب به په کوم ځائے کښې پروګرام وهٔ او د ملګرو اجازت به هم وهٔ، نو پهٔ هغې کښې به میاصیب زه ځان سره بوتلم او بیا یې وئیل چې د میاصیب د برکته ما ډېر ځیان ولیدل او چې کله به زما چهټي وه او لږ شان به بور شوم نو زر

به مې میاصېب ته فون اوکړو چې راشه... که میاصېب به
وزګار وۀ نو ضرور به راتلو... او که نۀ به وۀ اوزګار نو ماته به
یې ځائے پۀ ګوته کړو چې ته هلته راشه.
د منیجر عنایت الله صېب نه مونږ ته دا معلومات هم تر لاسه
شو چې په آخره کښې میاصېب پۀ ګلبهار علاقه کښې اکیډمي
پرانستې وه نو تقریباً یو کال به زۀ هلته سهار ورتلم ځان سره به
مې پې شوده او ډوډې واخسته او هم هلته به مو پخه کړه او
ناشته به مو اوکړه... ده دې خبرې نه پس منیجر صېب لږ ژړغون
شانې شو او آواز یې په مرۍ کښې اونښتو او وئیل یې چې:
"کله هم چې زۀ د هغه اکیډمۍ پۀ لاره تېرېږدم نو ورته نه
ګورم... ځکه چې ماته میاصېب او هغه زاړۀ وختونه رایادېږي
او زړۀ مې خفه کېږي"
منیجر عنایت الله صېب وئیل چې یو ځل پۀ دسمبر کښې راته
امیر عالم صېب چې د میاصېب زوړ ملګرے دے... فون یې
راته اوکړو چې زۀ د کوره لرې یم ته اکیډمۍ ته ورشه اوګوره
میاصېب ناروغه دے... نو زۀ زر اکیډمۍ له ورغلم... چې
اومې کتل نو میاصېب بیمار وۀ او د فالج علامات پرې ښکاره
وو ما زر تر زره ډاکټر ته بوتلو... او ډاکټر نه چې اوزګار شوم
نو خپل کور ته مې راوستو او حجره کښې مې ورته د هیټر
انتظام اوکړو... دې نه پس بیا کور واله پۀ صحیح توګه



هسپتال کې داخل کړو او هم په دغه دوران کښې زۀ عمرې له
لاړم، چې د عمرې نه فارغ شو او په ائیرپورټ چې کوز شو نو د
کور تلو نه مخکښې مخکښې زۀ میاصېب له هسپتال ته لاړم
نو طبعیت یې لږ شان ښه وۀ... بیا د دې نه څلور میاشتې پس
بیا ناروغه شو او علاج لپاره یې پېنډۍ ته بوتلو... د روژې
میاشت وه او په روژه کښې زۀ د میاصېب تپوس له پېنډۍ ته
لاړم ډېر خوشحاله شو میاصېب زما پۀ راتګ او وایې چې
ډېرې د زړۀ خبرې یې راته وکړې او یو فهرست یې راته وښود...
د خپل اوږد سفر د تلو نه مخکښې یې دا څۀ د لین دین فهرست
وۀ.
د منیجر صېب پۀ دې خبرو سره زما پۀ زړۀ کښې یو درد را
پورته شو سترګې مې د اوښکو نه ډکې شوې او پۀ زوره مې
ځان ټینګ کړو... او د میاصېب حوصلې ته حیران شوم...
د منیجر عنایت الله صېب د تفصیلي او ګټورو خبرو نه پس د
منیجر صېب زوی عامر صېب چې حاضر وخت کښې د دولسم
جماعت زده کونکے دے. عامر صېب هم د میا صېب پۀ اړه څۀ
خبرې مونږ ته اوکړې... عامر صېب وئیل چې میاصېب چونکه
د چائیو ډېر شوقي وۀ نو مونږ خاص د میاصېب لپاره د (بجلۍ
چینك) اخستے وۀ چې دبجلۍ په زور به پۀ کښې چائے پخېدو...
وئیل یې چې ما ترې څۀ وخت پورې پړهایي (ټیوشن) هم کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



وۀ او یو ځل یې ماته د انګلش ټسټ راکړو نو زما خط خراب وۀ، کله چې میاصیب له ما خپل لیکل یوړو... نو میاصیب څنګه زما لیکل اوکتل نو راته یې ووئیل چې: "دا خو درله زۀ په غور سره نه ګورم"

ما ووئیل ولې؟

وایې: "دې لیکلو ته خو دې اوګوره (D) له دې خیټه ډېره راویستې ده" د میاصیب د خط پۀ اړه هم ډېر مهارت لرلو.

عامر صیب بیا یو بله واقعه راته ووئیله چې میاصیب به زمونږ کور ته راغلو... زمونږ کور مخې ته به یې خپل موټرسائیکل اودرولو نو ما به ورته ووئیل چې: (سر زۀ به یې کور ته دننه کړم)

نو راته یې ووئیل چې:

"ما ورته داسې تالا اچولې ده چې د چا پلار یې هم نه شي بوتلے"

چونکې زۀ او میاعادل نثارصیب د منیجر صیب کور ته تلي وو نو میا عادل نثار صیب راته هغه تالا پۀ خپل موټرسائیکل پورې تړلې وښوده.

منیجر عنایت الله صیب پۀ دې یوې خبرې خپلې خبرې راغونډې کړې او په ډېر سوخت سره یې اوئیل:

"مونږ د میاصیب کمي ډېره محسوسوو---!!!"



## ◈امیر عالم صیب:

امیر عالم صیب (ریټائر پرنسپل) د میا صیب پۀ خاص ملګرو کښې دے. د میاصیب سره یې د ۱۹۸۸ء نه یارانه دوستانه وه امیر عالم صیب د میاصیب پۀ اړه مونږ ته ډېر ښۀ معلومات راکړو او د میاصیب پۀ اړه یې دا تاثرات لرل چې میاصیب یو قناعت پسند، انسان وۀ د چا مال او پیسو ته یې زړۀ نه خوشحالول. صبرناکه شخصیت وۀ او په دوستۍ کښې صادق وۀ هر پردے بچے به یې خپل بچے ګڼل... او د خپل وس نه زیات به یې پرې تعلیم کولو پام کوو. وئیل چې ما سره به یې خپل د زړۀ څۀ نا څۀ راز وئیل او خپلې ډېرې قیصې یې زما زوی ته کړې... د دې وجه داوه چې ما د خپل زوی چې (جواد خان) نومېږي د هغه د پړهایي (ټیوشن) لپاره یو ملګر سره خبره کړې وه خو هغه سره مې سمون رانغے. په دې وخت کښې چرته میاصیب خبر شوے وۀ... او ماله راغے او راته یې ووئیل چې زۀ به ستا زوی ته پړهایي (ټیوشن) کوم او هغه هم مفت.

ما ورته ووئیل چې ستا خو خپله ډېر مصروفیات دي نو راته یې وئیل یې چې:

"زۀ ستا پکار رانشم او ته زما پۀ کار رانه شې نو دا خو دوستي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رورولي نه شوه"

نو وئيل يې چې بيا يې زما زوى ته پړهايي (ټيوشن) شروع کړو نو مياصېب به څکه زما زوى ته خپلې ډېرې قيصې کولې...

امير عالم صېب د خپلو د خبرو وضاحت کښې دا خبره را په ډاګه کړه چې زۀ به کله کور کښې يوا ځې وم يا به مې زړۀ تنګ شو نو مياصېب ته به مې فون وکړو چې ځان زر را رسوه راله... مياصېب بۀ ما کله کله کور ته هم شپې له راوستو او ماسره يې کافي شپې کړې دي.

د امير عالم صېب د خبرو په لړ کښې دا خبره هم واضح شوه او بلکه د نورو ملګرو او زامنو نه هم دا خبره ثابت شوې چې د مياصېب د سي- ايس-ايس ډېر ارمان وو. امير عالم صېب وئيل چې په خپلو بچو يې کوشش کړے خو قسمت ته منظور نه وه ... وئيل يې چې مياصېب يو ورځ زما کور ته راغے څهرې نه يې د خفګان اثرات معلومېدل. ما ترې تپوس وکړو چې مياصېب ولې خفه يې؟

راته يې وئيل چې زما مشر زوى ميا راشد نثار خو KMC ته لاړے.

"نو ما ورته ووئيل چې خوشحاله پرې شه کنه؟"

وئيل يې چې:

"زما ارمان وۀ چې زۀ پرې C.S.S وکړم"



امير عالم صېب وئيل چې بيا يې وخت پۀ وخت د خپلو بچو نه هم د سي- ايس- ايس هغه ارمان قطع شو... نو بيا يې زما زوى جواد خان ته ملا اوتړله چې دا به د سي- ايس- ايس د پاره تيار وم خو د هغه نه هم نا اميد شو... خو د مياصېب د اسي- ايس-ايس ارمان په زړۀ کښې په غورځنګ وۀ.

بيا څه وخت پس يې د سي-ايس-ايس د پاره اکيډمۍ هم پرانسته خو د مياصېب پۀ طبيعت د سي-ايس-ايس شوق لرلو والا شاګرد ورته ملاؤ نۀ شو. د امير عالم صېب د دې خبرې نه پس ماته خپل ارمان لکه د مجرم اودرېدل چې زما خپله ارمان وۀ چې زۀ دې د مياصېب پۀ ژوند افسر شم... خو مرګے ډېر ظالم دے په چا رحم نۀ کوي، خو بيا هم مياصېب چې ماته کومه لاره سمه کړې وه پۀ هغې زۀ خپل مزل کوم لکه د دې شعر په معنې چې:

موت آگئی نہ ہو مرے ذوق امید کو
محرومیوں میں کیف سا پانے لگاہوں میں

د مياصېب نه محروم خو شوم خو ده هغه رانښودلي هر څه نه د ژوند رڼا او خوند اخلم...

امير عالم صېب ډېر د سوخته او د غم ډکه خبره وکړه چې:

((په مياصېب خو بچي يتمان شول خو د مياصېب ملګري يعني مونږه هم د يو ښه دوست نه محروم پاتې شوو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



امير عالم صېب يو ډېره خوندوره خبره وکړه چې مياصېب د
خپلې مرضۍ مالك وۀ... مياصېب به چې کله څۀ خبره وکړه او
زۀ به پرې پوهه شوم چې زما د خبرې ګنجائش پۀ کښې نشته نو
بيا به زۀ د مياصېب مخې له نه ورتلم... دې کښې به ځينو
ملګرو وئيل چې:

((امير عالم: ميا صېب وران کړے دے خو په دې کښې اصل
خبره دا وه چې زۀ د مياصېب د دوستانۍ نه نۀ شوم صبريدے)).

امير عالم صېب د مياصېب د قناعت پسندۍ په اړه راته يو
عجيبه قيصه وکړه چې يو ځل مياصېب ته دوايي اخستله نو
پيسې يې پکار شوې... خپلې پيسې ترې کور پاتې شوې وې
ما پسې راغے چې د څومره پيسو دوايي پکار وه هومره پيسې
رانه طلب کړې نو ما ورته اضافي پيسې ورکړې نو واپس
راکړې چې زما دومره نه دي پکار.

نو بيا زۀ په کور نه وم او مياصېب راغلے وۀ او پيسې يې کور
پريښې وې.

نو تردې حده پورې به مياصېب فضول خرچې نۀ کوله.

بقول امير عالم صېب ((چې مياصېب به په کتابونو او اخبارونو
ډېره خرچه کوله.))

امير عالم صېب پۀ دې خبرو هم مونږ ته رڼا واچوله چې:
((مياصېب ويل چې زۀ ترهګرۍ خلاف يو کتاب ليکم خو دا به



يې ورسره هم وئيل چې:

((که بالفرض زۀ دا کتاب اوليکم، نو ماته به پۀ پاکستان کښې
ژوند تېرول ګران شي... که زۀ ترې لاړ شم نو زما بچو ته به ژوند
ګران شي)).

امير عالم صېب سره بيا د سي-ايس-ايس پۀ اړه څۀ خبره راغله
نو چونکه ما سره مياعادل نثار صېب هم موجود وۀ نو ميا
عادل نثار صېب ووئيل چې:

((مونږ به چې کله کور کښې څۀ مرمت کول نو ميا صېب به راته
وئيل چې: څۀ دپاره دومره خرچه کوئ؟ سي-ايس-ايس وکړئ
ښۀ ښايسته تيار کور به درته ملاؤ شي، نو وايي ډېر ارمان يې
وۀ د سي-ايس-ايس))

امير عالم صېب وئيل چې مياصېب دوه ځل د سی ايس ايس
امتحان ورکړے وۀ د اول ځل انټرويو خو مونږ مخکښې ذکر
کړے... دويم ځل باندې امير عالم صېب وئيل چې په پرچو
کښې يې ښۀ نمبرې راغلې وې، خو په انټرويو کښې ترې سوال
غلط شوے وۀ، نو مياصېب ورته وئيل چې تاسو سوال سم
کړئ زۀ به جواب درکړم. نو د دې د وجې ميا صېب بيا په سي
ايس ايس کښې ناکامه شوے وۀ. نو دا دې ناکامتيا دوجې د
مياصېب په ذهن کښې دا خلا پيدا شوې وه چې مانه به يو
شاګرد هم نالائق نه پاتې کېږي. پۀ خپلو پيسو او پۀ خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوشش به زه هغه تعلیم سره مخ کوم او د تعلیم په اړه مونږ
ځای په ځای خبره کړې چې میاصیب به خلقو له په خپله خرچه
داخله کوله.
امیر عالم صیب وئیل چې: زۀ د میاصیب په طبیعت باندې
دومره پوهه وم چې یو ځل میاصیب څۀ لانجه وغیره کړې وه نو
ماله کور ته راغلے او په غصه وۀ او راته یې ووئیل چې:
((زۀ ریټائرمنټ اخلم))
چونکه زۀ خو پرې پوهه شوم چې سړے غصه دے نو ما ورته
ووئیل چې:
((اوس په آرام اوده شه خوب وکړه سهار به درخواست ولیکو
او دواړه به لاړ شو استعفٰی به واخلو))
چې سهار شو نو غصه یې سړه شوې وه نو هغه د استعفٰی
اخستلو لانجه ختمه شوه.
وئیل یې چې: میا صیب ډېر نر سړے وۀ کله چې به میاصیب
سره مېلمانۀ وو او زۀ به کور کښې نۀ وم، نو زما زوی
(جوادخان) ته به یې آواز وکړو چې د حجرې دروازه خلاصه کړه
ماسره مېلمانۀ دي او وئیل یې چې تردې حده پورې مونږ یوبل
سره جوړښت درلود چې ما به ذاتي مشوره چې رور سره هم نشو
کولے میاصیب سره به مې کوله. او د دې وجه هم دا وه چې
میاصیب امانت دار سړے وۀ او دیو خبره به یې بل چاته نه



کوله راز به یې پۀ راز ساتلو. سپك لمن انسان نه وو.
امیر عالم صیب هم د میاصیب د چائیو پۀ اړه ووئیل چې چائے
چیني هرڅه به یې ځان سره ګرځول نو ما به ورته کله کله وئیل
چې ((زما کور ته راځې نو دا شیان ځان سره مه راوړه. زما کور
کښې باورچې خانه شته. څۀ دې کار وي ماته وایه زۀ به درله
پخوم)) او بل دا چې میاصیب زما کور ته هډو پردے کور
ویلې نۀ وۀ چې رابه غلو نو راته حکم به یې کول چې نن دا شے
پوخ کړه زما پرهیز دے دا راوړه... بیا یې وئیل چې:
یو ځل مې کور ته شپې لپاره راوستو او ورته مې ووئیل چې
داسې ذاتي مشوره درسره کوم... نو پۀ دې وخت کښې ورته د
کور نه فون راغے نو اول یې ورته پۀ فون ووئیل چې زۀ نۀ شم
درتلے، نو خبره داسې سنګینه شانې وه، نو رانه روان شو او
راته یې وئیل چې ((سبا به ګپ لګوو)) نو بیا مونږ هغه مشوره د
غرمې وخت کښې وکړه.
امیر عالم صیب وئیل چې په دې **۳۰-۳۵** کالو کښې مانه میا
صیب صرف دوه ځل خفه شوے.
امیر عالم صیب خپلې خبرې پۀ دې سو درد نه ډك لفظونو
کښې راته ووئیل چې:
((هره شپه هر ساعت راته میاصیب نېغ اودرېږي او ژړا راشي))
د میاصیب د تولو ملګرو سره د ملاقات او د هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مياصېب په ژوند تاثرات او مياصېب سره د مينې د اظهار په
لړ کښې ماته د اکرام الله ګران بابا دا شعر راياد شو چې:

د ګــران پــه قبــر کــه وابښــۀ زرغــون شــي
يــاران ژونـدي دې وي صـحبت دې نــه مـري



## ◈استاد منصف خان صېب:-

حاضر وخت منصف خان صېب د هائی سکول استادۍ په
څوکۍ ناست خپل فرايض انجام ته رسوي. منصف خان صېب
د مياصېب کلي وال هم دے او ملګرے هم... بقول منصف خان
صېب چې ۱۹۸۷-۸۸ نه زما او د مياصېب ياري دوستي ده.
منصف خان صېب د مياصېب پۀ ژوند مونږ ته رڼا واچوله وئيل
يې چې زۀ د مياصېب پۀ شخصيت او په اخلاق چې څومره هم
خبرې اوکړم نو دا به داسې وي لکه پۀ اوړو کښې د مالګې
برابر... مياصېب يو ښۀ پلار، ښۀ رور او ښۀ دوست وۀ ما نه په
دومره وخت کښې يو يا دوه ځل خفه شوے وي او خفګان به
يې هم داسې وۀ چې ګهنټه پس به مونږ ګپ لګول وئيل يې چې
ما به کله ډېر غصه کړو، نو ماته به يې اندازه د تندي نه
اولګېده... ډېر پۀ سخته به غصه کيدو او زما د مياصېب سره
څو څو ځل ټرانسفر يو ځاې شوې او هغه هم په يو ځاې کښې...
وئيل چې ما د مياصېب نه ډېر څۀ زده کړي کله چې به مياصېب
ګړېدو نو ما به ورته پوره غوږ کېښنودو زۀ به ميا صېب ته ډېر
حېران وم چې مياصېب د الفاظو ذخيره د کوم ځاې نه ياده کړې
ده. وئيل يې چې کله به زۀ مياصېب سره ملاؤېدلم نو زيات تر
به منيجر عنايت الله صېب پۀ حجره کښې زمونږ ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو... او چونکه پخوا به موبائيل نۀ وۀ نو زما د مياصېب سره په ښار کښې د حاجي ګل زاده صېب پۀ دکان کښې ملاقات کېدو. وئيل چې زۀ صرف يو ځل په ۱۹۹۱ء کښې د مياصېب سره د ذاتي هلوځلو پۀ لړ کښې اسلام آباد ته چکر له تلې وم.

وئيل يې چې مياصېب به کله استاذانو ته څۀ ټرېنګ ورکول نو په هغې کښې به زۀ هم موجود وم او خپله زده کړه به مې ترې کوله چونکه مياصېب پۀ انګلش کښې ډېر ماهر وۀ نو ما هم ترې په ۱۸-۲۰ کالو کښې ډېر انګلش زده کړو او مياصېب به ماله پرې باقاعده شاباسی هم راکول. منصف خان صېب د مياصېب د ګپ پۀ اړه ووئيل چې:

((د مياصېب ګپ به هم زمونږ دپاره سبق وۀ او په هغې کښې به ترې هم مونږ خپله زد کړه کوله)).

بيا يې وئيل چې:

((زه اوس هم په سکول کښې نورو استاذانو ته د مياصېب ذکر کوم)) چونکه مياصېب خو يو ملنګ انسان وۀ نو منصف خان صېب د مياصېب د سادګۍ پۀ اړه راته ووئيل چې:

(( کله به په کوم محفل کښې مياصېب ناست وۀ او پۀ هغې کښې به داسې افسران هم ډېر تکبر سره ناست وۀ... خلقو ته به دمياصېب د لباس او حليې نه داسې معلومېده چې دا چرته



داسې تبليغي وغېره دے خو چې کله به مياصېب خپلې خبرې شروع کړې نو ټول محفل به ورته ګوته په خُلۀ شو چې دا څومره عالم فاضل انسان دے.))

وئيل يې چې:

(( زما د ايم ايډ پۀ امتحان او زد کړه کښې ۷۰ فيصده د مياصېب مدد وۀ. ددې وجه هم دا وه چې ما به مياصېب په قلار نه پرېښود. ځاې به مې ورسره وټاکل چې سبا به پۀ کوم ځاې کښې کېښنو چې کلاس واخلو، چونکه موبائيل به نۀ وۀ نو مياصېب به ځاې راوښودو چې:

((فلانې ځاې کښې به کېښنو)).

نو په داسې طريقه به ترې ما خپله زدکړه کوله.

منصف خان صېب وئيل چې د مياصېب مرګ زمونږ ډېر څۀ خراب کړل زمونږ ماشومان هم دمياصېب د علم نه محروم پاتې شول. وئيل يې چې مياصېب به زما بچو ته پړهائي (ټيوشن) کول، نو ما به ورته د پيسو وئيل چې پيسې درکوم خو مياصېب به نۀ اخستې. يوځل مې ډېر پرې غصه کړو نو راته يې ووئيل چې:

((د خپلو بچو نه څوك پيسې اخلي؟))

ما ورته ووئيل چې:

((هغه خو سمه ده خو ته خو غريب سړے يې زما بيا هم ګزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي)) خو مياصېب به پۀ دې خفه کېدو.
وئيل يې چې ((د ميا صېب دا منظر راته نه هېرېږي چې پۀ اول ځل د بيمارۍ نه لږ ښۀ شوے وۀ... زۀ سره د خپلو بچو تپوس له لاړم، نو مياصېب مې اوکتل ډېر خوشحال شوم طمع مې تړې پيدا شوه، خو مياصېب پۀ خبرو خبرو کښې پۀ ناسته داسې د پرېشانۍ جوته اوخوړه، نو زۀ ډېر خفه شوم)) د دې واقعې سره منصف خان صېب په ژړا شو... او راته يې ووئيل چې ((زۀ اوس خپل کلي ((موسیٰ زے)) ته هم نه ځم. کوم کوم ځاې کښې زما د مياصېب سره ملاقات شوے هغه ټول ځائيونو ته نه ځم.))
منصف خان صېب د ميا صېب سره د خپلې مينې اظهار پۀ دې الفاظو سره اوکړو چې:
((زما والد صېب او رور مې وفات شو هغه زما دپاره غم وه خو د مياصېب وفات د ټولې معاشرې غم دے))
د خپلو خبرو پۀ وضاحت کښې دا هم ووئيل چې زۀ يې دوستاني او مينې ته پۀ سلام شوم... وئيل يې چې:
((که د مياصېب پۀ ځاې زما زوی وفات شوے وے نو زۀ پرې راضي وم... خو د ميا صېب پۀ مرګ نه...))
الله پاك دې د مياصېب د ملګرو دا صحبت تل آباد لري او الله دې دوی له لوئی عمر ورکړي.
د مياصېب د ملګرو سره ملاقات نه پس د مياصېب زوې



مياعادل نثار صېب زۀ ځان سره خپل کلي ته بوتلم او د مياصېب په قبر مونږ حاضري اوکړه څنګه چې د مياصېب د ملنګۍ طبيعت وۀ هم داسې يې قبر کچه وۀ... د ميا صېب قبر ته مې کتل ژړا راغله او د عبدالرحمن بابا دا اشعار مې ميا عادل نثار صېب ته ووئيل چې:

دوباره دې راتلۀ نشته په دنيا
نن دې وار دے که دروغ کړې که رښتيا

تېر ساعت پۀ مثال مړے د لحد دے
مړي چا دي ژوندي کړي پۀ ژړا

بيا مياعادل نثار صېب ځان سره روان کړم او يو دکان په پلو يې بوتلم او راته يې اوښودو چې دې دکاندار سره به مياصېب تر شپې ناوخته پورې ناست وۀ.
الغرض دا ټول ګډوډ واقعات، لطيفې ما د دې دپاره اوليکلې، چې زما په خپله حافظه باور نشته او بله دا چې په دې خبرو کښې ما تر خپله حده پورې رېښتين ولي ليکلي... او اميد دے چې ان شاء الله په دې خبرو کښې به ما د چا دل آزاري نه وي کړي او محض په دې خبرې ما د مياصېب سره د خپلې سپېڅلې مينې اظهار کړے دے.
زۀ خپلې خبرې راغونډوم او په اخر کښې د خپل ارمان باره کښې به د خپل معزز استاذ او د ګورنمنټ کالج د اردو

(c) ketabton.com: The Digital Library





چیرمئین خالد سهیل ملك صېب دیو مقالې حواله لیکم، چې دا زما د زړهٔ ارمان وهٔ او حقیقت دے دا به تر ډېر وخته پورې هم داسې وي... هغوی وایي چې:

((خواب دکھانے والے نے خواب دکھائے - لیکن تعبیر نہیں بتائی))

خپلو ټولو استاذانو او خپلو خوږو ملګرو سره د خپلې بې کچه مینې اظهار






GUARANTOR

For Students:- Chairman/Head of Institution
For General Public:- Public Gazetted Officer of Federal/Provincial Government

I certify that Mr. Muhammad Tahir is known to me, I will be responsible for loss of books/reading material or any violation of library rules by the above should stated member

Name: Mian Nisaruddin
Designation: V. Principal
Department: Education
Phone:- 0333 9394860
**Address:-** vil. & P.O Musazai Peshawar


Signature & Stamp

PRINCIPAL Govt: Centennial Model High School Peshawar City

GS&PD.NWFP.—1447—Archives—50000—21.5.2008—(15)—Archives Membership Card

دا هغهٔ لیك دے چې میاصیب ماتهٔ په کال ۲۰۱۲ء کښې دستخط کړے وو... بیا مې د عبدالرحمٰن بابا کتب خانې انچارج حاجي صفدرخان صیب په برکت پهٔ کال ۲۰۱۵ء کښې تر لاسه شو.





| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 16 | get | got | got, gotton | getting | gets | |
| 17 | run | ran | run | running | runs | run |
| 18 | walk | walked | walked | walking | walks | walk |
| 19 | eat | ate | eaten | eating | eats | edibles |
| 20 | fly | flew | flown | flying | flies | flight |
| 21 | flow | flowed | flowed | flowing | flows | flow |
| 22 | try | tried | tried | trying | tries | trial |
| 23 | die | died | died | dying | dies | death |
| 24 | kill | killed | killed | killing | kills | |
| 25 | break | broke | broken | breaking | breaks | break, breakage |
| 26 | take | took | taken | taking | takes | |
| 27 | give | gave | given | giving | gives | gift |
| 28 | fall | fell | fallen | falling | falls | fall |
| 29 | say | said | said | saying | says | saying |
| 20 | tell | told | told | telling | tells | tale |
| 31 | win | won | won | winning | wins | win |
| 32 | lose | lost | lost | losing | loses | loss |
| 33 | sing | sang | sung | singing | sings | song |
| 34 | drop | dropped | dropped | dropping | drops | drop |
| 35 | open | opened | opened | opening | opens | opening |

دا نوټس میاصیب مونږ ته په نهم جومات کښې راکړے وو، چې تر دې دمه ماسره محفوظ دے.

(محمدطاهر عابد طائر)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**